مورچل

داعشي پروژه د طالبانو په وړاندې!

يوولسم کال يوولسمه، پرلپسې ۱۱۱مه ګڼه،
صفرالمظفر ۱۴۳۹هـق نومبر ۲۰۱۷م

- طالبانو لايزري او د شپې دوربين لرونکې وسلې له کومه کړې؟!
- د اردو په ليکو کې بد اخلاقي او بې ننګې دچا سوغات؟
- له خپل روزل شوي اردو نه د امريکايانو د مايوسۍ لاملونه..!!
- ولې د شپې عمليات؟!
- زمور دهيواد او دين په ستنو د دښمن بريدونه
- غاصب ځواکونه چې شکست نه مني څه به مني؟
- د ابن تيميه رَحِمَهُ ٱللَّهُ شخصيت ته عادلانه کتنه

ولسي مرګ ژوبله او د پتولو هڅه يې!!

مورچل

علمي، سياسي او جهادي مياشتنۍ خپرونه

يوولسم کال يوولسمه، پرلپسې ۱۱۱ مه ګڼه، صفر ۱۴۳۹هـ ق نومبر ۲۰۱۷م

لړليک

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله.....	۱
۲	طالبانو لیزري اودشپې دوربین داره وسلې له کومه کړې؟	۲
۳	د اردو په لیکو کې بد اخلاقي او بې ننګي دچا سوغات؟	۴
۴	ولسي مرګ ژوبله او دپټولو هڅه یې!.....	۷
۵	له خپل روزل شوي اردو نه د امریکایانو مایوسي	۸
۶	زمونږ د هیواد او دین په ستنو د دښمن بریدونه.....	۱۲
۷	مسکوني سیمې بمبارول او د داعش پراختیا	۱۶
۸	بأي ذنب قتلوا؟.....	۱۸
۹	ولې دشپې عملیات؟.....	۲۲
۱۰	امریکایان دې د افغانانو امنیت خوندي کړي یا	۲۴
۱۱	د ابن تیمیه رَحِمَهُ ٱللَّهُ شخصیت ته عادلانه کتنه.....	۲۵
۱۲	د اسلام غزوات او سرایا.....	۲۸
۱۳	بیت المقدس ته د سفارت لیږدول یو بل امریکایي اجرام	۳۲
۱۴	غاصب ځواکونه چې شکست نه مني څه به مني؟.....	۳۵
۱۵	د نومبر د میاشتې جنګي جنایتونه.....	۳۸
۱۶	د مورچل وړمې.....	۴۰
۱۷	د اکتوبر د میاشتې جهادي خبرونه.....	۴۳

د امتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

صلاح الدین "صارم"

کتنپلاوی :

حسن خپل | ایوب صافی
حسن زوی | حکمت بغلانی
زبیر مسافر | حافظ سعید

تخنیکي چارې :

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل بار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

داعشي پروژه دطالبانو په وړاندې

اسلامي امارت چې دصليبي يرغل دمقاومت له پيله تردې دمه له ډېرو نړيوالو دسيسو، ازمويښتونو او خورا ننګونو سوچه اونګه راوتلی، له دې وروسته هم داسې اميدچاته نه شي پاته کېدای، چې په وړاندې به يې دچل او فريب کومه نوې حربه کارنده ثابته شي .

په افغانستان کې د طالبانو په وړاندې د غربيانو ګټوته ژمن داعشي پروژه هم له دغو دسيسو څخه يوه ده، چې غواړي هيوادته مو ددوی له لارې هغه څه را انتقال کړي، چې سوريه او عراق يې پرې اخته کړل، ترڅو د دوی انډوخرته ميدان هوار او خپلې ناوړه موخې پکې خوندي کړي .

په دې کې به اوس چاته شک پاته نه وي چې داعش يوه امريکايي پروژه ده او په تمامه معنی صليبي اشغال ته لاره هواروي، که څه هم ځيني جنګيالي به يې دغه خدمت په غير شعوري ډول ترسره کوي او ترډېره په اصل حقيقت پوه نه دي .

دهيواد اونړۍ په سطحه رسمي او ډېرو غيررسمي کړيو وخت ناوخت داغړونه پورته کړل، چې ددې تورو پردو ترشا دامريکا لاسونه دي، اوس دادی عملاً وليدل شول چې کله هم اسلامي امارت ددغو بې رحمه له وحشته دخپلو خلکو خلاصون ته ملاترلې او ددوی توره کمبله يې له ډېرو سيمو ورټوله کړې؛ ورسره سم يې ملاتړ ته امريکايي الوتکې راپورته شوې او په طالبانو يې بمبارونه پيل کړي، دا لاڅه چې په کابل کې لاسپوڅه اداره يې چې تل خپل خلک له دې تورې بلا وېرووي، هم په دغوسيموکې دطالبانو په ضد دپراخو عملياتواعلان کوي اوپه يوه وخت دمجاهدينو په وړاندې دری ګوني جبهه پرانستل کيږي .

خولکه څنګه چې اسلامي امارت په عمل کې د ډېرو ناممکنو او کړکېچنو مسئلو حل ممکن کړی، دغسې به پردي پال اوله دين نه وتلي قوتونه هيڅکله پرې نږدي چې زمونږ خاوره او ولس دعراق او سوريې په سرنوشت اخته کړي .

مونږ وينو چې دغو اغراضو ته په هيوادکې له ډېرو نورو لارو هم کارکيږي، خو اسلامي امارت چې دغو حساسيتونوته په ټوله معنی متوجه دی اوله وخته په يوه کورکې دبهلابهلو لرکيو اومذهبي توکمونو ترمنځ دسوله ايز ژوند دبرابرولو پخه تجربه لري° هيڅکله به اجازه ورنکړي چې دغه راز خوځښتونه زمونږ په پاکه خاوره کې دغو ناوړه اهدافوته ورسيږي .

ان شاءالله

طالبانو لیزري او د شپې دوربین لرونکي

وسلې له کومه کړې؟!

شاهد (غزنیوال)

په دې وروستیو کې د ګډ حکومت پوځي چارواکو ادعاء وکړه چې دوئ د فراه په ولایت کې له طالبانو سره د جګړې په مهال لایږري او د شپې دوربین لرونکې وسلې تر لاسه کړې.

هغوی د دې ادعاء په ترڅ کې دا هم ویلي چې یادې وسلې روسي ساخت وسلې دې چې د دوی په باور د روسیې لخوا طالبانو ته د پوځي مرستو په لړکې ورکړل شوې.

مونږ غواړو دلته په مختصر ډول د دغو وسلو او د دولتي چارواکو د ادعاء په اړه څه وضاحت وکړو.

ایا ریښتیا هم طالبان لایزري د شپې دوربین لرونکې وسلې لري؟

لومړی باید پر دې بحث وشي چې ایا ریښتیاهم له طالبانو سره د لایزري او شپې دوربین لرونکې وسلې شته دي؟

بلې ! یادې وسلې له طالبانو سره عملا شته او هغه یې په لومړي ځل د هلمند په ولایت کې خپله له دولتي ځواکونو د غنیمت په ډول تر لاسه کړي .

خو کله چې یې په پوځي عملیاتو په تیره ناڅاپي بریدونو کې د هغو اغیزمنتوب ولیده نو یې له بهرنیو او داخلي ځواکونو سره د عملیاتو په مهال ډیرترکیز په دې وي چې څرنګه نوري دغه ډول وسلې هم له هغوي څخه غنیمت او یاهم له دولتي ځواکونو څخه د پیسو په بدل کې وپیري.

همدا راز د کندوز د نیولو په لومړي ځل طالبانو د نورو درنو او سپکو مختلف النوع وسلو ترڅنګ په زیاته پیمانه همدا لایزر او د شپې دوربین لرونکې وسلې له دولتي وسلتونونو څخه تر لاسه کړي.

اوس پر هلمند او شمالي ولایتونو سربیره په جنوب ختیځو ولایتونو کې هم هغه له طالبانو سره شته چې

ځيني ځايونه د ښارونو په منځ کې غلچکي بريدونه د يادو وسلو په زريعه تر سره کوي.

امريکايي وسلې د امريکايي ځواکونو خلاف

کومې نوې وسلې چې د طالبانو لخوا د امريکايي او داخلي ځواکونو خلاف په جګړو کې کارول کيږي هغه روسي ساخت نه ، بلکې خپله هغه امريکايي وسلې دي چې هغوی د ملي اردو ځواکونو ته د طالبانو د وژلو لپاره ورکړې دي.

خو طالبانو همدا وسلې له ملي اردو څخه يا د جګړې په زور غنيمت کړې او يا يې هم د پيسو په مقابل کې تري پيرلې دي.

د يادې وسلې پوځي مشخصات

طالبانو چې له امريکايانو او ملي اردو څخه کومې وسلې تر لاسه کړې د هغو په جمله کې يوه هم CheyTac M۲۰۰ توپک دی ده.

دا توپک امريکايي ډوله وسله او د نړۍ په کچه د دښمن د پلي ځواکونو (افرادو) د ويشتلو تر ټولو غوره او ښه وسله ده .

يادې وسلې هم د حجم او سپک والي او هم د ژرخلاصولو او بندولو او هم په د قيق ډول د هدف د له منځه وړلو له لحاظه تر امريکايي مشهورې وسلې (Windrunner) ډيره بريالۍ او غوره ده .

يادې وسلې زياتې ځانګړتياوې لري چې د هغو له جملې څخه د شپې دروربين ،لايزري جهاز، د مرمۍ ډير چټک والی او په دقيق ډول د هدف ويشتل دي .

همدا راز هغه پر يوه داسې يو کمپيوټري سيستم مجهز ده چې خود بخوده د خپل موقعيت له جوي او ځمکنی وضعيت سره ځان عياروي ، مثلا که شديد باد ، سخت باران ، دوړي ، سخته ګرمي او يا د شپې توره تياره وي هم د هغې د شپې دوربين او لايزري جهاز په خپله ځان د هدف د له منځه وړلو لپاره عياروي .

همدا راز يادې وسلې د شپې NXS ۵.۵-۲۲X دوربين لري.

د هغې وزن ۱۴ کيلو ګرامه او د موثر انداخت مسافه يې له ۱۸۰۰ تر ۲۰۰۰متره پوري ده .

جاغور يې ۷ مرمي ظرفيت لري او مرمۍ يې د پيکا تر مرمۍ دوه چنده غټه ده .

يادې وسلې د امريکا د cheytac llc-usa کمپنۍ لخوا په کال ۲۰۰۱ کې جوړه شوې.

يادنښه ويشتونکي توپکونه چې د قيمت په لحاظ هم ډير ګرانه په پراخه پيمانه له طالبانو سره شته چې هغوي له جنګي لاسته راوړنو ډير خوښ دی.

د اردو په لیکو کې بد اخلاقي

او بې ننګي د چا سوغات؟

بشیر

له هغه ورځې چې زمونږ ګران هېواد امریکا اشغال کړی دی، د بدمرغیو او بداخلاقیو قوي توپان هم په ټپو دی، داسې ناروا، بې حیایې، بد اخلاقې او جنسي بې لارې نشته چې هغه دغه ناروا شغال له ځان سره نه وې راوړې ؟ ځکه امریکااو غرب چې اسماني دین شاه کړی له امله یې د ډول ډول جسماني ناروغیو ترڅنګ په سختو اخلاقي او کلتورې ناروغیو کې هم ښکېل دي اوس چې هغوی هر چیرې درومي دجسماني ناروغیو ترڅنګ اخلاقي او رواني ناروغیانې هم له ځانو سره هلته وړې او په لنډ وخت دهغه هېواد او سیمې وګرې وربانديې اخته کېږي.. . دایو ښکاره حقیقت دی هیڅکله مبالغه یا دروغ ندي...

نو بناًً له کله چې امریکایان افغان ټاټوبي ته راغلي ورسره دبداخلاقیو یوتوپان هم راغلی،دا دومره قوي توپان دی چې شور او زورِ یې آن بیرته په غرب او امریکاکې محسوس او اوریدل کېږي خو زمونږ دولس او خلکو اجتماعي ضمیر دومره مړدی چې په رښا ورځ ورته دبداخلاقیو دتوپان زیانونه په نظر نه ورزي داپه هېواد فحاشي او لوڅتوب ورته نه ښکاري، ولې که داهر څه یې لیدلی او یایې په اړه ویښ احساس او ضمیر لرلی په ضد به یې غږ پورته کړی و، په ټول هېواد کې به یې په خلاف ولسي پاڅون کړی .... دډېر شرم ځای دی چې امریکایې رسنۍ پرلپسې راپورونه خپروي چې په افغانستان جنسي- بې لارې ،بچه بازې او ځورونې په دولتي سطحه جریان لري، د دولت او نظام په دفترونو او پوستو کې فحاشي او بچه بازې کېږي، په جګړه کې د هغو وژل شویو عسکرو کونډوته دکومک رسمي پاڼې یا کارتونه ورکول کېږي چې کومې دچارواکو سره جنسي- اړیکونیولو ته زړه ښه کوي ، بل لورته دکلیو اوښارونو څخه بد ذات قومندانان ښایسته هلکان په زور او جبر سره تښتوي په پوستو کې وربانديې وربانديې جنسي- تیري ترسره کوي دبیلګې په ډول دامریکا د واشنګټن پوسټ ورځپاڼې په یو راپور کې افغانستان کې د دولتې ځواکونو په لیکو کې دهلکانو جنسي- ځورونوته کتنه کړېاو لیکي: د

افغـان اردو پـه لیکـو کـې قومنـدانان پـه کشرانو هلکانو بچه بـازې او وربانـدې جنسي ـ تیـري کـوي، چې ددې ترشاه دامریکا حکومت او چارواکي لاس لري دورځپانې په وینـا: امریکـا چـې پـه افغانسـتان کې د روانې جګړې مشرې په غاړه لـري هغـه دیتـه اړده چـې کـوم قومنـدانان اوعسـکر دطالبـانو پـه خـلاف او دامریکـا پـه ملاتـړ جګـړه کـوي هغـوی اونازوي او ورته دبې لاریو اوبد اخلاقیولپاره ډالر او اسانتیاوې ورکړې نو دا هرڅه دامریکـا پـه مرسـته او کومـک کیـږي دامریکـا لخـوا ورکـول کیـدونکي ډالـر اکـثر پـه جنسي ـ تجـاوزاتو او بـدفعلیو لګـول کېږي

په دې سره امریکا نه یـوائې افغـاني کلتـور او اسـلامي ارزښـتونه پـایمالوي بلکـې پـه ښـکاره بشریت او انسانیت هـم تړپښـو لانـدې کـوي او لـه بشرـیت سره دښـمنې کـوي، پـه دې اړه فرانسـوی ژونالست (انوج) چې پـه افغانسـتان کـې یـې دنـده ترسره کړې ه هم په یوه لیکنه کې ورتـه انکشـافات کړي هغه وایي: پخپلـو سـترګو مې لیـدل دافغـان دولت قو مندانان په بـد اخلاقیـو مبتلـی وو، هغـوی ځـانو سره کشرـان هلکـان ګرځـول او پـه هغـوی جنسي تیـر کـول....داروز ګـان کـې دیـو قومنـدان کیسه کوي: چې هغه ورته یو هلک وراوښود ویلي: دا ددهٔ.... دی... هغه ما ولید؛ خو راته ډېر مظلـوم ښکاره شو .... افغانـانو شرم وکـړئ !دیـو فرانسـوي کې ضمیر دومره ژوندی دی چې هغه دیو مـردود او بد فعله قومندان کرکجن عمل غنـدي او پـه ضـد یې غږ پورته کوي ... خـو پـه تاسـو کـې یـو داسې دویښ ضمیر خاوندپیدانشو چې پورته شي او ددې بدکردار او بد اخلاقو قومندانانو دکړنو په خلاف اقلاً په رسنیو کې غږ پورته کړي ! فرانسوی ژورنالسـت وړاندې لیکې: ددې ناوړه عمل په ضـد مـلا محمـد عمر پاڅون وکړ او هغه بداخلاقه قومندانان یـې لـه افغانستانه او شړل کومو چې په هلکانو جنسي تیري کول خو چې کله امریکا دهغه حکومـت ړنـګ کـړ هم هغه شړل شوي قومندانان بیرته راغلل دامریکا سره پـه یوځـای کیـدو سره او دآ ډالـرو پـه منـدلو دخلکو زامن دکورونو څخـه پـه زور تښـتوي او پـه پوستو کې وربانـدې جنسي تیري کوي....

نوموړی وایي: امریکا دهغوی په خلاف ځکـه څه نه وایي چې هم هغه قومنـدان دطالبـانو خـلاف دامریکا په دفاع جنګ کـوي او دامریکـا ائتلافیـان دي په همدې وجه هغوی ته پریمانـه ډالـر ورکـوي په کومو چې دغه ډول ناوړه اعمال ترسره کوي ستم دادی چې امریکایان هر هغه قومندان یا عسکرچې پـه دغسـې بـداخلاقیو ککـړ وي تـر هغونـورو ښـه اکمالوي چې پکې لاس نلري ځکه دامریکـا هـدف په افغانستان کې جګړه ګټل دي نـه دبـد اخلاقیـو څخه دچا راګرځول

پـــه ورتـــه توګـــه وروســـتیو کـــې دامریکـــا دکانګرس لخوا خپریدونکې خپرونې دې هیل THE IHIL هـم پـه دې اړه یـو راپـور خپـور کـړی دی پـه

هغه کې هم ویل شوي چې دافغان اردو په لیکو کې بچه بازې او په هلکانو جنسي- تیري اوج ته رسیدلي

دې هیل په وینا: دامریکا مالیه ورکوونکو پیسې دافغان ځواکونو په لیکو کې په بچه بازی او جنسي تجاوزاتو لګول کېږي دا په داسې حال کې چې جنسي- تیری دامریکا یې قوانینو څخه په ښکاره سرغړونه ده

دافغانستان دبیارغونې پرچارو کې دامریکا دحکومت د سرمفتش دفتر سیګار هم پخپل راپور کې منلي چې امریکایې پوځیانو لخوا دوی ته ویل شوي چې دافغان ځواکونو دننه دجنسي- ځورونو او تیریو مخنیوی کول ممکن ندی هغه دیو امریکایې پوځي(اروون مک له خولې لیکې: چې ملامحمد عمر دطالبانو تحریک دهمدې کارونو دمخنیوي په موخه جوړکړی و چې پخوانیو قوماندانو به دخلکو ذامن تښتول اوبیا به یې په هغوی جنسي- تیري کول، ملا محمدعمر هغوی ټول له خپل هېواده اوشړل او دخلکونه اولادونه یې خوندي کړل له کله نه چې امریکا دهغه حکومت ړنګ کړی په دغه هېواد کې بیا دخلکو دذامنو تښتول پیل شوي زور واکي قومندان هلکان مجبوروي چې ورسره لاړشي او بیا ورباندې جنسي تیري وکړي نو دامریکا مالیه ورکونکي دي فکر وکړي چې افغانستان کې د دوی پیسې په کومو کارونو لګول کېږي ایا دوی په روان وضعیت قانع دي هغه په امریکایانو غږ کړی چې باید خپلې پیسې په دغه بیهوده بد اخلاقیو اونه لګوي

افسوس! چې د یوشمیرامریکایانو ضمیرونه ویښ دي هغوی په دې باب وخت ناوخت دغسې راپورونه خپروي لیکنې کوي نړیوال خبروي چې په افغانستان کې د دوی په مرستو او کومکونو ځایې زورواکان څه کوي ؟ لیکن په دې ټولو افغان ولس دغفلت په خوب ویده دی نه تراوسه په اړه یې کوم لیکوال لیکنه خپره کړه او نه په مخالفت یې کوم قلم پورته شو او نه د کوم بارسوخه شخص ضمیر رابیدار شو چې هغه دا غږ کړی وي چې په دې هېواد کې څه روان دي؟ او دشروفساد دورې هغه پخواني مفسدین او دهغوی ځامن په ولس کومې لوبې کوي؟ اخردشرم ځای دی یوکافر غربي چې دغه حالت ویني هغه یې غندي او په ضد یې په رسنیو کې لیکنې کوي او زمونږ افغانان چې ځانونه مسلمانان بولي په دې ټولو چوپه خوله دي ... ښکاري زمونږ ټولې ننې او پرونې ناخوالې دهمدې اجتماعي مجرمانه سکوت په وجه دخدایي عذاب زیږنده دي چې مونږ ته راکول کېږي ځکه مونږ په رښتینې معنی نه مسلمانان شولو او نه افغانان! زمونږ اسلامیت او افغانیت دواړه نیمګړي دي څو چې مونږ په رښتیا دیو ولس په حیث رښتیني افغانان او مسلمانان نه یو شوي ترهغې داشته ناخوالې او عذابونه به دوام لري.

ولسي مرګ ژوبله

او د پټولو هڅه يې!!

عزيز+ څاروان

تيره يکشنبه د ملګرو ملتونو د بشرۍ دوستانه مرستو د همغږۍ اداري له لوري کوم راپور خپور شو، پکې ويل شوي دي چې د روان کال له پيله د نومبر تر نيمايي پورې د افغانستان په روغتونونو کې ٦٩ زره تنه ټپيان ثبت شوي دي چې دا د تېر کال په پرتله ٢١ سلنه زياتوالی ښيي. ښکاره ده چې په افغانستان غوندې هېواد کې ټول ټپيان روغتون ته رسيدای هم نه شي.

که دغه ډول راپور په هغو هېوادونو کې چې ژمن حکومتي نظام لري، خپور شوی وای په ٢٤ ساعتونو کې دننه به يې چارواکيو استعفا ورکوله او له ولس نه به يې پر خپلې بې کفايتۍ ښښنه غوښتله. خو په افغانستان کې نه د امنيتي مسؤولينو پر دې راپور مودِ خراب شوی او نه د سياسي.

خودجان کيري اداري واکمن د دوی هم او غم د خپل واك ساتل دي او دهغو افغان دښمنه پروژو تطبيق ده چې پرون جان کيری ورته کړښه کش کړي وه اونن يې ورته داسلام لوی دښمن ټرامپ باسي.

راځو د مرګ ژوبلې کچې ته، څو ورځې وړاندې دغه خبره رسنيو ته راووته چې امريکايي چارواکيو دکابل له ارګ والو سره پر دې توافق کړی ؤ چې د مرګ ژوبلې خبرونه به نه خپروي، خو د دوی دې ته پام نه دی چې نن رسنيو او معلوماتو ته د لاسرسۍ وسايلو دومره پرمختګ کړی چې د مرګ ژوبلې خبره ډېره لويه ده، هغه خصوصي مجلسونه به هم افشا کېږي چې د امريکا او کابل لوريو تر منځ شوي او زمورِ د ولس پر ژوند او ابرو معاملې شوې وي. د دې يو لامل دا دی چې ذليلو چارواکي چې پر چا د نړيوالو دوستانو! په نوم باور کوي، هغوی دوی ته دخپلوموخو د يوه پراو دمهرو په سترګه ګوري او بس.

ويکي ليکس چې په سلګونو زره محرم اسناد خپاره کړل په هغو کې ډېر همداسې دي چې يوازې د يوه هېواد له چارواکيو سره د امريکايي چارواکيو خصوصي او محرمې ناستې شوې، ادوارډ سنوډن د سي آی اې مامور ؤ، هغو چې کوم اسناد افشا کړل د امريکايي ښکېلاك څېره يې ښه افشا کړه. ارګ وال بايد پر دې وپوهېږي چې نن وي او که نېږدې راتلونکې، د دوی پټې معاملې او ژمنې به افشا کېږي. بيا به ټول هېوادوال وپوهېږي چې تر کال په کمه موده کې ٦٩ زره تنه د چا لپاره او ولې ټپيانېدل او په ارګ او سپيدار مانۍ کې ناست ياران څو او چا ته وفا دار وو.

له خپل روزل شوي اردو نه

د امریکایانو د مایوسۍ لاملونه..!!

لیکوال: موسی فرهاد

امریکایان د خپل ۱۷کلن یرغل یوه لویه لاسته راوړنه دا ګڼي چې په افغانستان کې یې د امریکایي ګټو ساتونکی یو داسي دیمکراتیک سیټ آپ رامنځ ته کړی، چې خواوشا دري نیم سوه زره وسلوال پوځ یې د میلیاردونو ډالرو په مټ ورته تربیه کړ.

دوی هیله مند وو چې دا پوځ به هغه ځواک وي چې نور به امریکایان د افغانستان د ستراتیژیکي رهبرۍ لپاره په آرامه په څو محدودو بیسونو کې ځای پرځای وي او دفاع به یې همدا تربیت شده افغان اردو کوي.

خو کله چې یې په وړاندي د طالبانو په مشرۍ د افغان ولس کرکه او مقاومت ورو ورو مخ په زیاتیدو شو ، او په مقابل کې یې ځای ځای جبهې او زیاتره چریکي بریدونه دومره پیاوړي او اغیزناک شول چې د هغه اردو له منځه هم پر بهرنیانو بریدونه پیل شول ؛ نو د امریکایي اشغالګرو هغه هیلي یې ټولي په اوبو لاهو کړي چې دوی له وړاندي د افغان اردو په جوړولو کې اټکل کړي وي.

د افغان پوځ له منځه، پیل شوي کاري بریدونه چې په انګریزي کې دوی ورته **insider attacks** یا **"green-on-blue" attacks** نوم کاروي ؛ تر ۲۰۰۷م کال وړاندي ډېر کم تر سترګو شوي وو ؛ ولي له ۲۰۰۷م نه وروسته یې داسې بڼه غوره کړه چې د امریکا په مشرۍ اشغالګر ځواکونه یې ټول هک پک حیران او یو پربل په مکمل ډول بې باوره کړل.

پر امریکایی او نورو بهرنیو ځواکونو باندي د افغان ملي اردو یا پولیسو په یونیفورم کې

د نفوذي مجاهدينو له لوري سخت کاري گذارونه وشول چې په پنځلس کاله کې د بهرنيانو د ټولو تلفاتو ۲۱٪ سلنه برخه تلفات د همدې نفوذي مجاهدينو له لوري ورته رسيدلي ده.

د لانګ وار جورنال په قول : له ۲۰۰۷م راهيسي لږ تر لږه له ۱۵٪ تر ۲۱٪ سلني پوري نړيوال او افغان ځواکونه د همدې نفوذي بريدونو په پايله کې وژل شوي او ۳۳٪ سلنه يې زخميان شوي دي.

At least from ۱۵% to ۲۱% international troops and afghan allied were killed, and ۳۳% wounded, in these types of attacks – known as "Green on Blue" – since ۲۰۰۷. — according to the Long War Journal

د يوې شمېرني له مخې د امريکي دفاع وزارت ويلي چې په ۲۰۱۲م کې پر مورد ٦٤ بريدونه د نفوذي کسانو له لوري ترسره شول.

د دې ترڅنګ امريکايان وايي چې د يوه کال په موده کې زمونږ پر عسکرو باندي ۷,۲۲۸ ښځ کړای شوي ريموټ کنټرول ماينونه وچاوديدل چې ٤۳٪ تلفات مو له همدې لاري وګالل . او نور تلفات مو په مخامخ جګړو ، فدايی بريدونو او پر نظامي بيسونو د توغنديو ويشتلو په پايله کې ليدلي دي.

نو دا يو آساسي علت شو چې د افغان اردو په جوړولو کې د امريکايانو هيلي او ګټې نيمګړي شوي . داسی چې دوی يې هيڅ ګمان نه و کړی.

د چارواکو خپلمنځي بې باوري

کله چې امريکايي ځواکونو د خپلو سرتيرو د کمولو پريکړه اعلان کړه ، نو د کابل د تپل شوي سيټ آپ چارواکي د خپلې بقاء په اړه نور هم مايوسه شول. پوځي او غيرپوځي چارواکي چې مطلقاً د امريکا پر ډالري معاش سره را غونډ دي او بله هيڅ بنيادي انګيزه نلري ؛ ټول پخپلو کې سره بې باوره شول ، ګډوډي او اختلافونه پکې را څرګند شول ، تردې چې اوس په هيواد کې عملاً دوه بې واکه حکومتونه واک چلوي.

داسي يو نا اټکل شوي سياسي او انتظامي ګډوډيشن د ملکي او عسکري چارواکو ترمنځ فاصله را پيدا کړه ، دا فاصله دې سرحد ته ورسيده چې په يوه سيمه کې عسکر د طالبانو له لوري محاصره وي ، چارواکي نشي کولای چې د خلاصون لپاره يې نور قطعات ورواستوي ، او يا د هغوی اکمالات وکړي.

حتی داسی هم پيښه شوه چې د طلوع نيوز د خبر په آساس په ارزګان کې د جګړې لپاره د

کابل چارواکو لـه متقاعـدو ترافیکـو نـه غوښـتنه کوله چې جګړې ته ولاړ شي.

دغـه ډول بـې اعـتمادي دې حالـت تـه ورسـیده چـې هرځـای پـه سـلګونو او لسـګونو عسکري قطعات د مجاهدینو لیکـو تـه تسـلیمیدل پیل شول. او دا لړۍ پـه ډېـره تیـزي سره اوس هـم جریان لري.

د دوی د خپـــل منځـــي بـــې بـــاورۍ او ناهمغږۍ په پایله کې د امریکایی جنرال نیکولسن په وینا په یوه میاشت کـې ۹۰۰ افغـان عسـکر پـه اوسط ډول ، لـه طالبـانو سره پـه جګـړو کـې وژل کیږي.

د غزني ولایت یـو سـیمیز طالـب قومنـدان ماته خپله کیسـه کولـه ، چـې مـوږ د یـوې لـویې قرارګـاه لـه څـو عسـکرو سره رابطـه وکـړه چـې راتسلیم شي او یا پرقرارګاه د حملې لاره راته برابره کړي ؛ ده راته وویل چـې زه بـه د خـپلې پیـرې پـر مهال تاسـو تـر دې ځایـه راورسـوم ، پـه دې کـې ډېروخت تیر شو ، وروسته عسکر راته وویل : چې دلته اوس بې باوري زیاتـه ده ، زه نـه شـم کـولای چې د خپلې پیرې وخت ځان ته مالوم کـړم ، داسـی چې قومندان او یا تـر هغـه ورپورتـه د بـل کنډک قومندان د پیره دارانو نومونه لیکلي وي ، وخت نه ورته ښـیی چـې وایـی هسـی نـه طالبـان رابانـدي راولي ، کله چې د هر عسکر د پیرې وخت شي ، په همغه وخت کې یـې قومنـدان او څـو نـور عسـکر راځي عسکر راپورته کوي ، کله چـې یـې د پیـرې په ځای کې کښینوي وسله ورته سـپاري او دویـم اعتمادي پیره دار بیا د هغـه لپـاره کښـینوي ترڅـو لومړی پیردار وځاري.

د افغان عسکرو د بمبارولو لامل

د بهرنیو ځواکونو جنرالانو په وار وار لـه روانو حالاتو ژوره اندیښنه څرګنـده کـړې ده. دوی هر یـو پخپلـه وینـا کـې وایـی چـې مـوږ د افغـان ځواکونـو لـه روان حالـت نـه ډېـر اندیښـمن یـو . بیانونه یې په میډیا کې راځي.

له یوه طرفه دوی د افغان عسکرو په ملاتړ په جګړه کې برخه اخلي ، ځکه چې پر هغوی یـې د مقاومت بـاور نشـته ، ګـمان کـوي چـې هسي- نـه سیمې طالبانو ته پرېږدي ، خو له بل طرفه بیـا ځـان ورنژدې کولای نشي چې د عسکرو له منځـه بـه د مجاهدینو نفوذي کسان وربانديي برید وکړي، او په عین وخت کې دا ویره هم لري چې کورنۍ عسـکر طالبانو ته تسلیم نشي.

نو کله چې پر هغوی باندي لږ شک ورتـه پیدا شي ؛ سمدستي وربانديي بمبار وکړي. او کلـه نا کله داسی هم وي چـې د اردو د عسـکرو تـرمنځ خپل اختلافات وي ، هغوی بیا امریکایانو تـه د یـو

او بل شکایتونه کوي او بیا د همدې شکایتونو پر بنسټ امریکایان پر چا باندي بمبار وکړي.

د دې ډول پیښو نوعیت یو په ارزګان کې رامنځ ته شو چې د پخواني قومندان مطیع الله ۸ تنه وسلوال عسکر د کندهار د رازق په اشاره ووژل شول.

دویم د پکتیا په جانیخیلو کې رامنځ ته شو چې یو کنډک عسکرو باندي طالبانو ته د تسلیمیدلو شک پیدا شوی وو، نو ویل کیږي چې امریکایانو بمبار کړل.

پایله

نو دې پورتنیو دلایلو ته په کتو سړی ویلای شي چې د افغان پوځ په روزنه کې چې امریکایانو کوم امیدونه ترلي وو ؛ هغه ټول په مطلق ډول په ناامیدۍ او مایوسۍ بدل شوي دي.

۱ - دا ځکه چې یو خو افغان قوم فطرتاً له گوډاگیتوب نه کرکه لري ، د زړه له تله یې دا نه خوښیږي چې د پیسو او یا قدرت په بدل کې دین ، وطن ، عقیده ، ناموس او خپل تاریخ وپلوري . او که بیا هم داسی څوک پکښې پیدا شي نو هغوی به د گوتو په شمېر وي . پر امریکایی ټرینرانو باندي د خپلو شاگردانو له لوري بریدونه کول یې ډېر واضح ثبوت دی.

۲ - دویم داچې افغانان طبعاً خصوصاً پښتانه له هغه چا سره چې هغوی د دین او وطن د آزادۍ پخاطر مبارزه او جهاد کوي ؛ دوی که څه هم په مخالفت کې یې ولاړ وي ؛ خو کرکه ورنه کول او یا یې په مقابل کې په کلکه دریدل ؛ د دنیا او آخرت بربادي او تباهي ګڼي.

۳ - درېیم داچې د امریکایانو بې باوري پر افغان عسکرو او د افغان عسکرو خپل منځي بې اعتمادي ، همدارنګه له اصلي سره پوځ د قومونو او سمتونو پر بنیاد جوړول ؛ هغه څه دی چې نن یې د امریکا او ناټو د یوې نیمي لسیزې ټولي خواري په اوبو لاهو کړي ښکاري.

٤ - ځلورم داچې د طالبانو هغه تګ لاره چې په تسلیمیدلو سره ، به د عسکر د سراو مال ساتنه کیږي او په عزت سره به له خپلي کورنۍ سره خپل عادي ژوند پیلوي ؛ دغه تګلاره یې خورا اغیزناکه او مؤثره ثابته شوي. چې په سلګونو او لسګونو عسکري قطعاتو خوا اړولي او له طالبانو سره یوځای شوی دي.

پای

والسلام

زموږ د هیواد او دین په ستنو د دښمن بریدونه

سعد کټوازی

د اسلام دمبین دین مستحکمي وروړګلوی او د ولسي غیرت او خواخوږی د احساس په بنسټ د کاپیسا تګاب، خوست زني خیلو، میدان وردګ نرخ، هلمند بهرامچه، زابل شملزو، پکتیکا وازیخواه او...د ټولو مظلومو شهیدانو او تنکیو طالبانو کورنیو، خپلوانو او د مدرسو مهتممانو ته د تسلیت مراتب وړاندې کوم، مدرسې اومسجدونه مو هم شهیدان شول، الله دې تاسو ته په ځانګړې ډول، غیور مجاهد ولس او د نړۍ مسلمانانو ته په ټولیز ډول جمیل صبر او جزیل اجر په برخه کړي چې خامخا به مو په درد باندي دردیدلي وي.

مسجد او مدرسه زموږ د هیواد ابادي او طالب مو دولس سرمایه ده، په دې کندهار کپر هیواد کې کړیدلي مسلمان ولس ته یوه خړه مدرسه د امریکا، اروپا او شتمنو عربي هیوادونو د لویو تجارتي شرکتونو سره برابره ده، د هیواد د ډول ډول کانونو څخه تر ټولو د پام وړ کان مدرسه ده، د هغه په له لاسه ورکولو مو هیواد او ولس خوار وزار کیږي، او همدغه مسجد، مدرسه او په هغو کې طالب د نړۍ په مخ تر هرڅه بې زیانه او له هر ډول ګناه پاک دي.

طالب! که ښه ورته ځیر شو دهوا د مارغه یو په زړه پوري تمثیل دی.

طالب علم حاصلوي او پرې د خپل رب دین لورې ساتې، په هرڅه کې یې ثواب وي د خدای ذکر کوي او د هغه تسبیح وایې، د هغه د کتاب تلاوت او حفظ کوي.

طالب د یو انسان په صفت چې د هغه او د هغه د ولس روح د علم او حکمت له لورې سره مخ وي د دنیوي ژوند په سهار لمر څرک مدرسي ته ځي او د روح غذا را ټولوي، دورځې په تلو تلو کې په دغه روحي غذا ښه سترې ځي او راځي، په خپلو سترو او ماتو وزرو کې یې ولس ته څه را اخستي وي او د خپل ژوند تر مابنام تیاره یې هغو ته وریشي.

طالب د خپل ژوند په اوږدو کې له ناخوالو او کړاو، د ښکاري له دام دانې او وار سره هم مخ کیږي، خو د ځان او ولس لپاره د روحي غذا د ترلاسه کولو په لاره کې د یوې مرحلې په توګه د هغو په راتللو باور لري د زغم تلوسه یې نیسي.

طالب نه پوهيږي او يا له زياتي خوشبيني دا فکر هم نه کوي چې دغه اشرف المخلوقات او په مادي نړۍ کې ځواکمن انسان (چې دی ورسره هيڅ شخړه نه لري بلکي دروحي ژوند لپاره يې کار کوي) به زماغوندې کمزوري او بې ګناه ته دومره زړه ډک کړی وي بلکي ها د چا خبره ((پاک اوسه بيباک اوسه)) زما بې ګناهي ته په پام به مې نه ازاروي.

طالب که ووژل شي روح يې په اساني سره وځي له نيمګړې دنيا له هري ګناه په پاکې کې سترګې پټې کړي او بيا د آخرت له غمه هم خلاص وي.

هو ! دا هرڅه د مسلمانۍ له ليدلوري، د يو مسلمان لپاره او د مسلمان په وړاندي، خو تش په نوم مسلمان هغه چې له ساده ولس څخه يې د مسلمانۍ په نوم اوروی رايې غوښتي، ژمنې يې ورسره کولې نن د اصلي کافرانو په بدرګه ورځې د يوې ړندې بمباری او شپنې چاپې په ترڅ کې د هغه تنکي بچيان، د هغو سرمايه او د هيواد ابادي له منځه تړې وړې اخير سړی حيران شي چې داولې؟ رايې دي د همدې لپاره ورڅخه غوښتې؟ او بيا دي له لري نړدې د هجرت له ديارہ هم په دې بيه را ستانه کړې يو؟

ولس خو له دغو خونخوارو د داسي وحشت تمه نه درلوده، نو دغه واړه بچيان يې چې هغه يې ترلاس نيسي او دخپل دين دزده کړې لپاره يې تر مسجد او مدرسي پوري رسوي څه پوهيدل چې داسي به راسره کيږي، بلکي لا چې دغو تنکيو طالبانو ته يې لاس ور ترڅل هم دوی دا پريکړه نشوای کولای چې ګڼي وژني مو، ځکه مسلمان دي لمونځ کوي او په مسلمانه ټولنه کې را لوی شوي دي، له ګاونډيو هيوادونو همدوی را ستانه کړي يو چې خپل يې کيږو، مورږ خو د مدرسې طالبان او بيا واړه هم يو څه ګناه مو هم نه ده کړې څه مو کوي اوبل دا چې له ګاونډيو هيوادو څخه زمورږ د را تللو په مهال غني ډاډ راکړی وه چې دلته به مدرسې راته جوړوې نو...، کيدايشي کوم داعشي ! يا وسلوال طالب پسي راغلي وي، لاره يې غلطه کړې وي، څه شک او اندېښنه پر دې ځای لري له پلټنې وروسته بيرته ځي.

دا نور که امريکايان دي خو مورږ ته شکرده نه را نژدې کيږي لاس مو هم خپل کليوال را تړي او دا يو ښه زيری دی چې ستونزه به نه جوړيږي، ځينو به يې له ځان سره دا هم ويلي وي چې ځه زه بې ګناه يم پلارمي ! ورورمي ! مامامي ! او...دفلانکي حکومتي جناب ملګری دی دهغه په روی به مي نه وژني، مورږ به د خپلو اولادو په شان ورته ښکارو او...او...

خو دغه ځناور پردې نمکه نه له زړو مسلمان او اسلام ته ژمنو، نه په داعشي او وسلوال پسي راغلي و، نه يې کوم شک او اندېښنه لرله، تر همدې مدرسې او تنکيو طالبانو پوري يې لاروه او له همدوی سره يې دا

کـار، نـه ددې وحشـيانو پـه وړانـدې د دوی بـې ګناهې څه ارزښت لاره نه ورځخه خپلې بې ګناهې له هغو خلاصون ور کولای شواي، دا ورته ولاړ امریکایـان يـې هـم دبز دلـی ، بـې ننګـی او بـې غیرتی ننبه ورسره وړې وه چې پر همدغو تنکیو طالبانو باندې پرې غښتلي وي ـ د اسلام دښمنی خپل کوتلې ګامونه د سر په سترګو وروویني، ښه به وه چې لاس هم هغو ور ترلې وای؛ یو خو دوی د بشر د حقوقو دعوی داران دي په وژنه کې به يې هم دعاطفې تومنه او څه شفافیت وي او بل مو دوی هیواد ته راغلي د همدې لپاره دي څومره چې ورته خوشبین نه و همدومره به له روحي درد او فشار سره نه مخ کیدلو لکه له دې کلیوالولاس ترونکو ! دا هرڅه ولس د سر په سترګو ولیدل.

پاکې اروا وې يې له تنه داسي ووتې لکه چې لږ موده وړاندې به يې په خوبیدلو سره دمیندو تیان له خولې ایله شول او په ربښتیا هم چې له همدغو میندو څخه ډیر مهربان ذات (الله) تـرې اروا وي واخیسـتې، الله دي مـورِ تـه د دوی شفاعت را په برخه کړي.

دا هغـه څـه دي چې لـه پخـوا راسـي يـې سـپیڅلو عالمـانو وړاندوینې کړې وې او غربي امپراتورانو د یو یشتمي پیړۍ روانه امپراتوري هم د هغه په نوم پیل کړې وه، خو چې په ګران هیواد کې د هغو د اټکل سرچپه هرکلي سره مخ شـول او د مـاتې څـرک ورتـه ولګیـد بیـا يـې د ترهګري او ترورستي ضد جګړه و نومولـه ترڅو له یو خوا عام اذهان اغفال کړي او له بل لوري د پوره ماتې په صورت کې د تیښتي لپاره د منلو وړ بهانه ولري.

ولس مو کید ایشي له یوې خوا د دوی تر اغفال لاندې تیروتنه وکړه او لـه بلې خوا يـې د عالمـانو د وړانـدوینو لکـه چې پکـار و هغسـي هرکلـی يـې ونکـړ، همـدادی چـې د څلـورمي امپراتوري واکمنان پرته له کومې لاسته راوړنې او معقـولي بهـاني پـه تیښـته شـول؛ خـو د مـاتي خـوړلې او نیمـې تښـتیدلي امپراتـوري زړو عـام وژنو ته همدغو داخلي چوپړیانو يې زور ورکړ او دوی يې سرته رسوي چې لـه هرڅـه مخکـې يـې د هیواد او اسلام پـه سـتنو خونړي بریدونـه ترسره کړل، په اسلام پسې يې مسجدونه او مدرسې پـه بـل مـخ واړول او د هغـه پـه اساسي قـانون (قرآن) پسې يې تنکی سیني غلبیل کړې.

د روانې امپراتوري پیـل د ټرمـپ د څنګ ملګـري بـوش کـړی و ، دوی هغـه وخـت ولسـونه غولـولې و ؛ خـو چـې بیـا يـې ولـس او د هیـواد اقتصـاد تـه پـه تیـرو ۱۷ کلونـو کـې زیـات زیـان واوښت او ډیري بد مرغی يې ولیدې نور يې نه د هغه د غولولو بل چانس لید او نه يې د جګړې د لا زیات غځولو زړه کولای شوای، پرته لـه دې چې ټرمـپ دي ولسمشـري تـه د سـیالی پـه مهـال د افغانستان د موضوع په ټراؤ چپ پاتې شي.

د ټرمپ له وروستیو پالیسیو چې د خپل هیواد او ادارو د راتلونکي او یا د نړۍ له ځینې

هیواد و سره د اړیکو په اړه یې درلودلې او له پیله پرې چې پاتې شوی و ښکاري هغه هیواد، ولس او رسمي ادارو ته نور هم د اندیښنې وړ دی نو ځکه پنټاګون او د سنا مجلس کلفورنیا ایالت استازي براډ شرمن له هغه څخه دواک د پریښودلو غوښتنه هم کړې ده، دا وروسته له هغه چې د ولسمشري په سیالۍ کې هم د ټرمپ د نه وړتیا له امله تمه نه کیده چې خپل سیال میرمن هیئرکلنټن ته دي ماتې ورکړي او بیا چې د زیاتو رایو په ترلاسه کولو ولسمشر شو هم په وړاندې یې توند لاریونونه وشول.

خو دکابل لاسپوڅي اداړې او اړوندو چارواکو یې بیا چې د مسجدونو او مدرسو ورانولو، ددیني عالمانو -طالبانو او تنکیو حافظانو شهیدانولو، شپنیو چاپو او... امپراتوري ته د ټرمپ په راتللو زوړ تعهد یوځل بیا په اثبات رسولو کې د اسلام، هیواد او ولس دښمنۍ کومه مظاهره وکړه هغه له هیچا پټه نه ده، نو په زغرده و یلای شو چې تر اشغالګرو کافرانو همدغه د دوی ځیره خواره داخلیان زموږ د دین او ولس ستر دښمنان دي اوښیې چې په داخلي نیوفورم کې دښمن ترخارجي دښمن ډیر زیان رسونکی دی.

ولس دي د نوې ستراتیژي په نوم زړو عام وژنو او شپنیو چاپو په وړاندي دې و دریږي، ځواب دي یې ووایې، کلک مقاومت دي وکړي، له بل پلوه دغه د علماوو -طالبانو او تنکیو حافظانو - مسجدونو او مدرسو شهیدانول چې دوی یې نوې ستراتیژي بولي د کابل د کوډاګۍ اداړې په لیکو کې د با احساسه ځوانانو لپاره هم په زړه پورې پلمه ده چې په وړاندې یې د خپل ملي احساس او خواخوږي له مخې له ولس سره و دریږي او د هغه په سرشاره تاریخ او کارنامو کې له اوږد انتظار وروسته ګډون وکړي او د ځان په ګټه او ریښتینې نوښت (امپراتوري نړولو او خپلواکي ترلاسه کولو) یې واړوي.

دا نسبتاً اوس اسانه ځکه ده چې طالبانو ډیر زیات پرمختګونه کړي لا نور هم دولس له پوره ملاتړه برخمن او ورځ تربلې په مخ روان دي، او لري نه ده چې د خدای په نصرت او د مجاهد ولس د سر ښندنو او قربانیو په پایله کې غربي امپراتوري پوره نسکوره او ولس مو د هیواد تولیزه ازادۍ، امن او د خپلواکۍ برم ترلاسه کړي. وماذالک علی الله بعزیز.

مسکوني سیمې بمباردول

او د داعش پراختیا د ټرامپ ستراتیژي ده !!

عبید ـ تنویر

له هغې ورځې ورسته چې امریکایان په افغانستان له خپل پرمختګ اوبري څخه مایوسه اوزړه توري شول اوپه خپلې اجیري اردواواربکیانویې هم اعتبارنیمه خواشونوهڅه یې پیل کړه چې دافغانستان یوشمیرولایتونوته دداعش ترعنوان لاندې روزل شوي ملیشي ـ واردي اوځای پرځای کړي .

امریکایان په دې فکرکې ول چې دننګرهار ولایت دشنواروپه غرنیوسیموکې به داعش خپل خیالي خلافت اعلان اودیوځوتکفیري کړنوپه ترسره کولوبه په ولس کې ویره اوډارخپورکړي اوهغوئ به اړکړي چې داعشي فکراوسوچ ورسره ومني

امریکایانودداعش فتنه اوناترسه ډله ځکه انتخاب اودخپلوناولوموخولپاره وګمارله ترڅوله یوپلوه په افغانستان کې دهغوئ په مرسته مذهبي نفرت اوبدبیني تیت اوخپره کړل شي اودافغانانو ترمنځ هغه سرتاسري وحدت چې دحنفي مذهب په شکل کې ټینګ اوجوړدی هغه له منځه یوسي اوله بل لوري داسلامي امارت قوت دداعش مخنیوي اوځپلوته متوجه کړي.

دسیمي مجاهدینو اوعام ولس په کرات اومراتوداسې امریکایي چورلکي اونقلیه وسائط لیدلي چې داعشیانوته یې وسلې ، مهمات اوخوراکي توکي وروړي او دجګړې له میدان څخه دجلال اباد‌ښار اوکابل ته دچورلکوپه مټ دداعشي ـ ټپیانوانتقال خونورماله اوعادي خبره ده !

دغه ډول امریکایانودجلال اباد په هوایي ډګرکې دداعشیانولپاره یوه لویه مجهزه راډیویی دستګاه چې خپروني یې دننګرهار اوشاوخواسیموکې په اساني اوریدل کیږي نصب اودزهرجنو تبلیغاتولپاره په اختیارکې ورکړي .

ډیرځله داسې شوي چې کله مجاهدینو دداعش په ضدپراخ عملیات پیل کړي اودرون زیان وراړولی ، امریکایان اواجیره اردوپه دغه حساس وخت کې دداعشیانومرستې اوکمک ته وردانګلي اوهڅه یې کړي چې دطالبان له ورسته څخه محاصره اوکلابندکړي اوطالبان پرینږدي چې په یومخیزډول داعشي لښکري تارومارکړي .

همدا دڅونیږدي ورځو عیني حقائیق اوشواهددي ، کله چې داعشي ـ وحشیانو دننګرهار خوګیانو ولسوالی دوزیروپه ساحه کې دګوډاګي

رژیم له بیزونواومرکزونوځخه سرونه راوویستل اودسیمي زرګونه خلک یې هجرت ته اړکړل داسلامي امارت اتلوقطعاتو دتصفیوي عملیاتوپه ترخ کې داعشیان دوزیرو تنګي له اهمونقطوځخه پرشاکړل ، خو چې کله رژیم اوباداران یې پوه شول چې داعشیان په هغه سیمه کې وځپل شول اوتیښتي ته اړشول نویوه لویه قوه یې ددې لپاره وزیرو ته واستوله چې مجاهدین نورپرمختګ ونکړي اوددوئ استخدام شوي ملیشي په یومخیزډول له منځه ولاړي نشي نومجاهدین یې له ورسته ځخه محاصره اوځه قواوي یې دداعش په مخ کې دړومبي کرښې په ډول واچولي ، یعني اجیري اردو له داعشي ملیشوځخه دحفاظت په ډول ګردچاپیردفاعي کرښې جوړي کړي ترځوداسلامي امارت مجاهدین پرې تعرضي اوتصفیوي عملیات ترسره نکړي .

حقیقت دادی چې داعشیانودننګرهارپه شنارواویادخوګیانو دوزیروپه تنګي کې په خپل قوت یوه لویشت هم پرمختګ ندی کړی اونه یې کولای شي، بلکې داامریکایان اوغلامان دي چې ذلیلو داعشیانودتحرک اوخوځیدوموقع اوزمینه سازي کوي اوپراخ امکانات په اختیارکې ورکوي

خوافغان ولس دې پوه وي چې مجاهدین داعش ملیشي دامریکایانوځانګړي روزل شوي لښکر او اربکیان بولي هرګام اوحرکت ته یې سخت متوجه دي اوالله پاک په نصرت ترخپلې وسي اوتوان پوري ددوئ مخه نیولي اونیسي یې

خوامریکایان اوګوډاګیان دې داخبره دزړه په غوږونو واوری چې اسلامي امارت دهغوئ هرې حربي اودسیسې ته سخت متوجه دی ، ددا عش اونوروارباکیانوجوړول به هیڅکله نجات درنکړي اونه به داسلامي امارت له جهادي تکتیکونوځخه په امان پاتي شي ، اسلامي امارت چې ۵۱ هیوادونوله عسکروسره تاریخي مقابله وکړه اوله دریوځلور هیوادونو پرته یې ټول بیرته خپلوهیوادونوته وځغلولي ددا عش ځوسوه اجرتي قاتلان خویې دالله تعالی په نصرت هیڅکله مقابله نشي کولای اونه یې دجهادي تکتیکونو مخه ډب کولای شي

دغه راز اوس دالله تعالی په مدد هغه مرحله تیره شوی چې امریکایان اومزدوران یې دطالبانو دکمزوره کولوفکراوسوچ وکړي، افغان ولس ، سیمه اونړیوال ذهنیت ټول په دې متفق دی چې اسلامي امارت یوعمده قوت دی اووجودیې دټولولپاره دخیر اونجات باعث ګرځیدلی اوځوک چې دغسې عمیق ملاتړ اوخواخوږي له ځان سره لري دهغو دماتولو فکراوسوچ دي امریکایان اودهغومزدوران له خپلومغزواوستراتیژیوځخه ارومرووباسي .

مونږ امریکایانوته وایوچې تاسې دطالبانو دماتولو له ستراتیژی ځخه صرف نظرشی ۱۷ کاله موزیاتي خواری وکړي خوهیڅ هم لاسته درنغلل یو بل اسانه کاروکړي چې هغه دافغانان دامنیت تامین اوثبات دی که موله خپل ټول قوت سره تنهادکابل په ښارکې امنیت تامین اوداسې یوه اداره مورامنځته کړه چې له ښکروړومفسدینو، باج خوړواوحرفه یې قاتلینو ځخه پاکه اوصفاوه دابه دټرامپ دستراتیژی لاسته راوړنه وي؛ خوداکار به هم هیڅکله ترسره نشي کړای.

بأې ذنب قتلوا ؟؟

حسن زوی

محترمو لوستوالو به په نړیوالواو کورنیو رسنیوکې داخورا زړه دردونکی خبر اوربدلی وي چې غلامې اردو اوبهرنو وحشي- فوځیانو دیوې مدرسې یواستاذ او۲۰ دقرآنکریم دحفظ کوچني طالبان په ډبر بې رحمۍ په سر وویشتلو .

پرون دروانې مېلادي میاشتې په ۲۲مې نېټې د میدان وردګو ولایت د نرخ ولسوالۍ د عمر خیلو په کلي کې پر یوې دیني مدرسې وحشي- بهرنو یرغلګرو او د ملي اردو په نوم د هغوئ تالي څټو د شپې چاپه ووهله چې د مدرسې یو استاذ او شل تنه تنکي د لسو – پنځلسو کلو تر منځ عمر لرونکي د قرآن کریم دحفظ طالبان یې په ډیر وحشت سره شهیدان کړل ، عیني شاهدان وایې چې دوئ یې یو دبوال ته په کتار کېنول اوبیایې هر یو په ډیرې بې رحمۍ په سر وویشتلو .

له دې وړاندې دروان ۱۳۹۶المریزکال دلړم په ۸مه نیټه دخوست ولایت نادرشاه کوټ ولسوالۍ کې هم دغاصبو امریکایانو لخوا پر یوې دیني مدرسې یرغل کې دمدرسې دیوتن استاد په ګډون اوولس داسلامي علومو تنکي زده کوونکي (حافظان) په شهادت ورسېدل .

ټرمپ چې دبش ریښتونی ځای ناستی او داسلام او مسلمانانو سره په دښمنۍ اوتعصب کې ترهغه هم وړاندې دی دده له لورې دافغانستان لپاره دنوې ستراتېژۍ درامنځته کېدودخبروسره سم همدافکرکېدلو چې دلته به دنوي وحشت یوه خونخواره لړۍ پیل کېږي چې به پکې دهوایې ځواک اوخصوصاً دډرون نه زیات کار اخستل کېږي اوله همدې لارې به دخپل شرمېدلي شکست اوستروځاني اومالي تلفاتو انتقام دعامو افغانانوپر کورونو دړندو بمباریو اوله دې لارې دې غریب اومظلوم ولس ته دښو ډېرومالي اوځاني تاوانونو له لارې اخستل کېږي .

څنګـه فکرچـې کېـدلو همداســې وشــوه اودادی ددې نــوې ســتراتیژۍ لــه اعــلان وروســته کورنــو لاســپوڅو او اشـغالګرو بهرنـو ځواکونـو چـې اوس ورتــه دګــډو ځواکونــو اصطلاح کـارول کېـږي دهېـواد په ټولو برخوکې دشپې لـه مخـې دخلکوپرکورونو بمبـاریو اوچـاپو ته سخت زور ورکړی ؛ افغانـان وایـې چې اوسنۍ چاپې ډېرې وحشـتناکې دي اوداســـــې ښـــکاري چـــې دخاصـو اهـدافو اومقاصـــــدولپاره پکـې دتشـدد عنصـر عمداً داسې ورزیات شویدی چې په تېرو ١٦ کلونو کې یـې سـاری نـــه لیـــدل کېـــږي ؛ اوس دچاپوپرمهـــال دتېرپـــه ځېـــر ځوانان ژوندي نـه بوتلـل کېـږي بلکې ځای پـه ځـای وژل کېـږي اوددې ترځنـګ دپخواپـه پرتلـه اوس دګـوډاګۍ اردو دافغانـانو سره په دښمنۍ ظلم او وحشـت کـې لـه بهرنویرغلګرونـه زیـات

اخلاص ښکاره کوي او اوس ولس ته زیات تاوانونه هم دهمدوئ له لورې ور اوړي .

بس په توره شپه کې پـه کور ورواوړي ؛ مالونـه یـې لـوټ کړي اوسړي یې له کورنه بیـرون په مرمیـو وولي او پـه همـدومره ادعـاکولو اکتفـا وکـړي چـې وسلوال مـو پـه نښـه کـړي خـو

حقیقت بیـا بـل څـه وي او وژل شوي ټول تنان ملکي وګړي وي .

ددې ترځنـګ پکـې لـوی بدلون داراغلـی چـې اهـل علـم اودعلـم مرکزونـه یـې خـاص پـه نښه کړیدي .

په مدرسویې چاپې زیاتې کړیدي اولـه ګنډمدرسـونه یـې استاذان اوشاګردان له ځانه سره

ژوندي بوتلی دي او دهېـواد پـه مختلفوبرخوکې دامریکاله لورې دجوړو شویو نوو اربکـي ملېشـو له لورې په ډېرې بـې دردۍ سره هغه علماء کرام په مرمـوز ډول وژل شـویدي کـوم چـې پـه خپلوسـیموکې مقبولیـت لـري ؛ دعوامـــودیني رهنمایـــې کـــوي اوددولـــت او اربکـــي ملېشـــوپه وحشتونو انتقادونه کوي . خوپه میـــــدان وردګـــــوکې درامنځتـــه شـــوې اوسـنۍ پېښـې پـه ځېر دکـومې پېښـې درامنځته کېدوتمـه چانه کوله ځکه چې پـه اسـلامي هېوادونـوکې کـه دوخت حاکمان ډېر هم بې دینه وي دبدنامۍ نه دځان ساتلولپاره دداسې وحشي اوبـدنامونکوکړنو نه ځان ساتي ؛خـوداشرف غنـي په مشرۍ کې چې اوسـنۍ اداره کفرته پخپله له اشـغالګرونه هـم زیاتـه مخلصـه شـویده او خپلـه اسلام دښمني یـې ډېـره ډاګیـزه کړیده نوهغه څه یـې هـم وکـړل چې په یواسلامي هېواد کـې یـې

ديوناسلامي دولت نه هم تمه نه کېږي .

دوحشي بهرنو اوداخلي قواوو له لورې وژل شوي دافغان چې عمرونه يې د۱۰ او ۱۵ په منځ منځ کې وو نوهرڅوک پدې پوهېږي اودسيمې ټول خلک داوايې چې دوئ ټول دالله تعالی دمقدس کتاب قرآن کريم طالبان وو او دخپل صغر سني له املـه هيڅ ددې وړ نه ووچې دچاپر ضد دې وسله راپورته کړي ؛يادې د کومې جنګي ډلې غړي شي يادې ورسره تړاو ولري ترڅو دلاسپوڅی اداري دوسلوالو اوبهرنو اشغالګرولپاره ددوئ دا تړاو ددوئ ددې بې رحمانه وژل کېدوپلمه شي .

جرم يې بل هيڅ نه و بس يواځې همدا چې دماديـاتو پدې دورکې په اشغال شوي هېواد کې چې دلته دراغلوصليبي لښکرو له لورې ددې هېواد دتنکيو ځوانانو دګمراه کولو، ددينې تعليماتو او اسلامي اخلاقونه دلرې کولو، له مختلفولارو په ډول ډول بد اخلاقيو ،بې حيايئ او فحشا کې داخته کولو سختې هڅې روانې دي دې تنکيو ماشومانواو ددوئ کورنيو دصليبيانو اوددوئ دلاسپوڅو دغه هڅې عملاً په ډېر لوړهمت چيلنج کړی وې اوپه ډېرعالي مورال يې د خړې مدرسې په ختينوکوټوکې پرقرآني نور اول دخپلوځانونو اوبيا دخپلې ټولنې منورکول غوښتل .

همدادخپل دين اوالله تعالی دکتاب سره ددوئ دامينه داسلام دښمنې کفري نړۍ په نزدډېرسترجرم ونوځکه خو پدې دومره ستر وحشت ټوله هغه غربي نړۍ چوپه خوله ده کومه چې دخپل مطلب په وخت کې دنړۍ په کوم ګوډ کې ديوانسان دښمنه حيوان په وژل کېدو هم نړۍ په سر را اخلی ؛ اوس نه دملګرو ملتونو اداره ددې تاريخي ظلم په مقابل کې کوم اقدام کوي ؛ نه اروپايې ټولنه ددې ستروحشت په مقابل کوم غبرګون ښايې اونه هم دبشردحقوقو نړيوالې اداري پدې هکله کوم مؤثراواز پورته کوي .

څه شول دانساني مساواوات دا دروغجن دعوېداران؟ او چرته دي دبشر دحقوقو د ساتنې په نوم جوړې شوې اداري ؟

دمکتب په يوې انجلۍ چې ډزکېږي اوسر يې زخمي کېږي نوپه ټولې نړۍ کې يوه ستره غوغا رامنځته کېږي ؛دنړۍ ترټولوعصري روغتونونو ته په طيارو کې وړل کېږي ؛ ټوله نړۍ ورته غېږ خلاصوي اودنوبل په شمول ورته نړيوال مډالونه ورکول کېږي خودلته چې ۲۰زدکوونکي په سرونو ويشتل کېږي اووژل کېږي نونړۍ ټوله چپه خوله ده او هيڅوک داسې نه وايې چې گيني په نړۍ کې دظلم کومه کوچنۍ پېښه هم رامنځته شويده .

دداسې پېښوپرمهال دغرب دريځ دغرب دمنافقت نه

ټولې پردې پورته اواصلي څېره يې ټولې نړۍ ته روښانه کوي .

اودټولويقين ته پرېوځي چې دبشري حقوقو ددفاع په نوم د بشري حقوقو دنړيوالو علمبردارانو روان تبليغ اوشعارونه ټول په دروغوولاړ دي، او په دې نامه فعالې اداري هيڅ خپلواکي نه لري ؛ دا اداري دامريکا او نورغرب تبليغاتي اداري دي ؛ د همدوئ فرمايشونه تبليغوي اوله دې پرته بل هيڅ هدف نه لري.

پدې سره دنړيوالو رسنيو دکرداراو اصلي څېره يوځل بيا افغانانوته ښه روښانه شوه ؛ نړيوالې رسنۍ تل درسنيو دازادۍ په نوم دغاصبو امريکايانو او نورو زبرځواکونو لپاره تبليغاتي جګړه پرمخ بوځي او نړۍ کې دمظلومو او بې دفاع خلکو دمظلوميت نه ډک پورته شوي غږونه زندۍ کوي او نه پرېږدي چې نړيوال له حقايقونه خبر شي.

خپل دين ته دژمنتيا اوددينې لارښونواوخپل کتاب سره دمينې په جرم ددې تنکو ګلانوشهيدانول اودلاسپوڅې اداري په لاس دهمدې نوعيت دغه ډول نورې پيښې داثابتوي چې اشرف غني او دده اداره د صليبي غرب په ملاتړ مخامخ داسلام ،قرآن او دقرآن دحاملينو سره دښمنۍ اوجنګ کې داصل صليبيانونه هم زيات اخلاص ښکاره کوي .

داسلام اوقرآن دا دښمنان دې پدې پوه شي هڅې يې په کلي ډول ناکامې دي ؛ دعام ولس په مرګ ژوبلې او خصوصا دقرآنکريم دزده کوونکوداسې کوچنيو ګلانو شهيدانول خپل ځانونه پخپله دهلاکت کندوته غورځول دي ، ځکه چې دامريکا اوګوډاګيانو په لاس درامنځته شوې هرې ولسي مرګ ژوبلې له املې د بهرنو اوداخلي وحشي ـ ځواکونوسره نفرت په ولس کې خوبرابره زياتيږي او دمجاهدينو ليکي لا پسې قوي کيږي .

دوئ به دداسې اقداماتو له لارې داسلام داصيلوبچو دزړونو نه دخپل دين اودينې تعليماتوسره مينه ونه شي ويستلای ؛ بلکې برعکس به داسې پېښې دلاسپوڅې اداري سره دخلکودنفرت دلازياتوالي اودخپل دين اوقرآن سره دځوانانودلازياتې مينې اوهمدردۍ سبب شي ؛ مدرسې به لا زياتې اوآبادې شي ؛ ددين نه ددفاع اوددين دزدکړې احساس به ځوانانو کې ښه ډېرشي اوددوئ همداپاک احساس به داشغالګرو اوددوئ دغلامانوشرمېدلی شکست يقيني کړي .

ان شاءالله تعالی .

ولې د شپې عملیات؟!

احمد مختار

په افغانستان کې د ټرمپ د وحشیانه جنګي ستراتیژي له پلي کیدو سره سم پر افغان ولس د امریکایي جنایاتو لړۍ پیل شوه .

داسې خونړۍ لړۍ چې خپله د امریکایانو په اعتراف یې په دریو میاشتو کې پر افغان ولس د غورځول شویو بمونو شمیر تر ۳۰۰۰ واوښت او هدف یې کلیوالې سیمې ، د هغوی مساجد ، مدارس او نور د غم او ښادي ټولنیز مراسم و چې له کندوزه نیولې تر کابل، لوګر، ننګرهار، کونړ، کاپیسا ، پروان ، فراه ، غور، هلمند، کندهار، اروزګان پوري په ګڼو ولایتونو کې په نښه کړل شول.

پر ولسي سیمو له خونړۍ بمباري سره هم مهاله امریکایي اشغالګرو د داخلي مزدورانو په ملتیا د بیوزله کلیوالو په خلاف شپني عملیات هم پیل کړل چې له املې یې د هیواد په مختلفو سیمو کې په سلګونو بیوزله ولسي کسان ،ښځې او ماشومان هم ووژل شول.

د روان کال د قوس د میاشتې په پیل کې د میدان وردګ ولایت د نرخ په ولسوالۍ کې پر یوې دینې مدرسې د ګډو ځواکونو شپني عملیات یې وروستۍ وحشیانه بیلګه ده چې تر ۱۲ تنه زیات معصوم درسي طالبان ورکې شهیدان شول.

د پوښتنې ځای دا دی چې امریکایان او د هغوی ملاتړې ولي د کلیوالو خلاف د شپې عملیات کوي؟

ځکه امریکایان ادعاء لري چې د دوي په مقابل کې جنګیدونکي کسان ، افغانان نه ؛ بلکې ټول بهرني تروریستان دي چې د ایتلافي او داخلي ځواکونو په مقابل کې جنګیږي.

که د امریکایانو او د هغوی د اردلیانو دا ادعاء ریښتیاوي نو بیا دوي د شپې عملیات د کلیوالو خلګو په کورونو ولي کوي ؟

ځکه همدا په اصطلاح بهرني تروریستان خو معلوم محاذونه لري او د هغوي پوځي فعالیتونه هم ټول د ورځې مهال د هغوي له ښکاره سنګرونو او جنګي کرښو څخه تنظیمیږي.

دا خبره د افغاني ټولنې د دود او کلتور د شرائطو له مخې بلکل محاله ده چې یو بهرنی وسله وال دی د افغان کورباندې له خوښې پرته د وسلې په زور د هغه په کور کې شپه وکړي.

که په دې خبره کې امریکایان یا د هغوي پرېښې شک لري نو عملا دې یوه ورځ یو سل یا دوه سوه کسیز امریکایي ګروپ له جنګي الوتکو او ځمکنیو شوبلو پرته له وسلو سره د میدان وردګو،

کندوز، ننگرهار، بدخشان ، کندهار او یا بل هر افغاني ولایت په کوم کلي کې د کلیوالو په کورنو کې پریږدي چې له دوئ سره کلیوال افغانان څه برخورد کوي؟

لهذا په کلیوالو سیمو او کورونو باندې د امریکایي ځواکونو او د هغوي د اردلیانو شپني عملیات له دوو حالتونو خالي نه دي :

یا دا چې د دوي د ادعاء له مخې بهرني تروریستان دومره ځواکمن او زورور دي چې د افغان کلیوالو د ټولو مذهبي ، کلتوري او افغاني عنعناتو برخلاف د هغوی د کورونو په حریم کې شپې کوي چې دا کار په کلي ډول له محالاتو څخه دی .

او یا دا چې په همدې کلیو کې اوسیدونکي خلګ بهرني تروریستان نه ؛ بلکې د همدې کلیو اصلي کلیوال دي چې له خپل دین ، خپل هیواد او خپل ناموس څخه د دفاع په غرض یې د امریکایانو او د هغوي د اردلیانو په خلاف وسله اخیستې ، هغوی د ورځې د جهاد او مقاومت په سنګرونو کې له دښمن سره په سپین میدان داسې جنګیږي چې دښمن یې له خپل ټول زور او وحشت سره سره له مخامخ مقابلې څخه عاجز وي مګرکله چې د شپې مهال خپل کور ته راشي او له خپلو معصومو اولادونو سره بې وسلې په آرام خوب ویده وي بُزدله امریکایان او د هغوي بې غیرته ملاټرې ورپسې راشي او په توره شپه کې یې د غلو په ډول د کور پر بامونو ور واو ړي او هغه په ډیر وحشت سره د خپلو اولادونو له منځه را ولاړ او بیایي د هغوي په مخ کې شهید کړي.

که احیانا چیرته په کوم کلي کې همدا کلیوال مجاهدین د بې غیرته دښمن او د هغوی د بې ننګه ملاټرو له یرغلیز ورتګه خبرشي او د خپل کور له حریم څخه د دفاع په خاطر د هغوي مقابله وکړي بیا نو ډارن دښمن د بې ۵۲ او یا هم ایف ۲۲ ډوله الوتکو په وسیله د همدې کلیوال مجاهد ټول کور تر برید لاندې نیسي او هغه له خپلو ټولو معصومو ماشومانو ، تورسریو او بیوزله کلیوالو سره په ډیر وحشیانه ډول شهیدان کړي او کوم څوک چې له بمباره ژندي پاتې شي هغوی د بهرنیو تروریستانو په نوم له خپل کور او کلي څخه په پټو سترګو او ټرلیو لاسونو بګرام ته رسوي.

لهذا ویلای شو چې شپني عملیات د ډارنو یرغلګرو او د هغوي د بې غیرته مزدورانو یوبل بشر ضد جنایت دی چې د غلو په ډول یې د شپې له تیارې څخه په استفادې سره د افغان ولس د کلیوالو او د هغوي د ماشومانو او تور سریو خلاف پیل کړی .

خو باید هم امریکایان او هم د هغوي بې ننګه اردلیان په دې پوه شي چې دا وحشیانه او بُزدلانه عملیات به یې هیڅکله د افغان ولس د جهادي ارادې د کمزوري کولو لامل ونه ګرځي ، بلکې لا به یې د دوي په خلاف د مشروعې دفاع جذبه وربانديې تازه شي.

د امریکایي اشغالګرو او د هغوی د بې ننګه ملاټرو مخ دې تور وي ...

امریکایان دې د افغانانو امنیت خوندي کړي

بیادې نورې لاپې ووهي

په افغانستان کې د امریکایي قواوو قومندان (جان نیکلسون) پرون له اشرف غني سره په کابل کې د یوې پوځي غونډې په ترڅ کې وویل چې د ټرامپ نوې ستراتیژي طالبان کمزوري کړي اود ده په خبره تر هغو به یې په خلاف عملیات سر ته رسوي، چې طالبان د سولې لار خپله کړي.

امریکایي جنرالانو ته له دې پرته چې د ټرامپ د نوې ستراتیژي په نوم او تشو تبلیغاتو شخوند ووهي، بل څه نه دي ورپاته، جنرال نیکلسون دې ووایي، له هغې ورځې چې د ټرامپ جنګي ستراتیژي دوی اعلان کړې، له دې پرته چې په ولسي- وګړو او مسکوني سیمو یې بې رحمه بمباري څو چنده کړي او سوونه مظلوم افغانان یې شهیدان او جونګړې یې ورورانې کړي، بله کومه لاسته راوړنه یې درلودلې؟

ایا کوم امریکایي جنرال او یا د کابل مزدور رژیم چارواکي په ټول افغانستان کې د هغې یوې سیمې نوم اخیستلای شي، چې د ټرامپ له ستراتیژي ورسته یې له مجاهدینو څخه نیولې وي؟

امریکایان چې په پوځي میدان کې له هر اړخیز شکست سره مخ شول او نوې ستراتیژي یې وننګول شوه؛ نو بیا یې د خپلو خاصو ملیشو (داعشیانو) اکمال او تجهیز ته زور ورکړ، چې د هیواد په ختیځ ولایت ننګرهار کې د ملي اردو له بارکونو او مرکزونو څخه راووځي او عام ولس په دې روان ساړه ژمي کې له خپلو سیمو او کلیو باندې څخه هجرت کولو ته اړ کړي.

که امریکایي قومندان جنرال نیکلسون همدغه لاسته راوړنه او بری بولي؛ نو له شک

پرتـه چـې امریکایـانو د خپلـو یـادو ځـانګړو ملیشو (داعشیانو) په واسطه دغه ځور او کړاو د ننګرهار خوګیانو ولسوالۍ کې عام ولس ته پیښ کړ او د خپلو وحشتناکو او ناولو تبلیغاتو په توسط یې زرګونه کورنۍ د خپل عـزت او عصـمت ساتلو په خاطر مجبورې کړې ترڅو خپل کلي او کورونـه پریږدي.

مونږ امریکایـانو او د کابـل ګـوډاګي رژیـم تـه ورپـه یـادوو چـې نـور افغانسـتان پـر ځـای پریږدئ، ایا تاسو له خپل ټول حضور او ډول ډول امنیتـي قـوت او جـال سره سره پـه دې توانیـدلي یـئ، چـې تنهـا د کابـل ښـاریانو امنیـت او ثبـات خونـدي کـړئ؟ تیـره ورځ خـو د کابـل شـتمنو او صرافانو په چیغو چیغو رسنیو ته فریادونـه وکـړل چې نور افغانستان ته تګ او راتـګ خـو پـه ځـای پریږده، له کورونو جوماتونو ته نشـو تلـلای، یـوه صراف خو دا هم وویل چې لس تنه محافظین په ځان پسې ګرځـوم، خـو بیـا مې هم وړوکـی زوی راځخـه د غلـو او شـوکمارو بانـډونو وتښـتاوه او اوس د خپـل زوی د خلاصون په بدل کـې راځخـه پنځـه میلونـه ډالـر غواړي!!

نـو امریکـایي جـنرال ته په کار ده چې د طالبـانو د کمزوره کولو فکـر او سـوچ دې پـه بشـپړ ډول لـه ذهن څخه وباسي، که دوی تنها د کابـل پـه ښـار کې امنیت تامین او داسې یوه اداره یـې رامنځتـه کړه چې له ښکرورو مفسدینو، باج خورو او حرفـه یې قاتلینو څخه پاکه او صفا وه، دا به د ټرامپ د ستراتیژي مهمه لاسـته راوړنـه او یـو بـری وبلـل شي.

اوس هغه مرحله تیره شوې چـې تاسـې د طالبانو د کمزوري کولـو اوتي بـوتي وایـئ، افغـان ولس، سیمه او نړیوال ذهنیت ټول پـه دې متفـق دی چې اسـلامي امـارت یـو قـوت او وجـود یـې د ټولو لپاره د خیر او نجات باعث ګرځیدلی او څوک چې دغسـې عمیـق ملاتـړ او خواخـوږي لـه ځـان سره لـري، د هغـو د مـاتولو فکـر او سـوچ دې امریکایـان او د هغـو مـزدوران لـه خپلـو مغـزو او ستراتیژیو څخه ارو مرو وباسي.

د ابن تیمیه رَحِمَهُ ٱللَّهُ

شخصیت ته عادلانه کتنه

رحمت الله نړیوال

شیخ الاسلام ابن تیمیه رَحِمَهُ ٱللَّهُ زموږ د تاریخ یو له هغه شخصیاتو نه دی، چې په اړه یې خلک د افراط و تفریط ښکار دی، د نومورې د ځینو نظریاتو او ځینو فقهي تفرداتو لامله ځینو همعصرو ګمراه بللی، له همدې امله یې په وار وار د محبس ستونزې و کړاوونه هم ګاللي، چې اخر یې مرګ هم همالته را منځ ته شوی، بل اړخ ته بیا د نومورې ځینې پلویان د دوی په پلوي و دفاع کې دومره له حده تېر شوي، چې لامله یې د امت ستر ستر شخصیات غندني او بد پسې وایي.

حقیقت دا دی چې ابن تیمیه رَحِمَهُ ٱللَّهُ په علم و شرف، زهد وتقوی، اخلاص و للاهیت کې کمساری و، یوې خوا ته که عالم و، بل طرف ته ستر مجاهد و، د وخت د حکمرانانو مخې ته بنیان مرصوص و، الله جَلَّ جَلَالُهُ ورته د قوي حافظې تر څنګ د وعظ و بیان ملکه او روان قلم هم ورکړی و، چې دیني خدمات او تصنیفونه یې ساحل نه لرونکی سیند دی.

کوم چې پر نومورې د مجسمه وو یا مشبهه وو د عقیدې تور پورې کیږي، هغه هم د محققینو علماوو په نزد تش خیالات دي. پاتې شو د نومورې فقهي تفردات، نو یو خو د علماوو یوې ټولې نومورې مجتهد بللی، او بل تفردات خو د بېخي ډېرو علماوو شتون لري، بیا به هغوی پسې هم موږ بد وایو؟

دا چې نور زه خپل نظر درسره شریک کړم، غوره ګڼم چې د نومورې په اړه د ځینو محققینو علماوو نظرونه درته غورچاڼ کړم.

رائځ له دوی یې واورو.

ملا علي قاري رَحِمَهُ اللَّهُ د نومورې او دده د شاګرد ابن قيم په اړه داسي وايي: دوی د اهل سنت و جماعت له اکابرينو او د دې امت له اولياء نه و. (جمع الوسائل ۳۰۸/۱)

مولانا ادريس کاندهلوي رَحِمَهُ اللَّهُ په تعليق الصبيح کې د ملا علي قاري رح نه داسي توري نقلوي: ابن تيميه رح د تشبيه و تعطيل له هغو تورونو پاک دی، کوم چې پرې جهيمه د بنمنانو لګولي دي.... (۳۸۸/۴)

شاه ولي الله محدث دهلوي رَحِمَهُ اللَّهُ وايي:

له ابن تيميه رح سره زمونږ عقيده ده، مونږ دده د حال تحقيق کړی دی، دی په قرآن او د هغه په شرعي و لغوي معانيو پوه دی، د نبي عليه السلام د احاديثو د سلفو د آثارو حافظ دی..... څوک چې څه پسې وايي هغه د نومورې د علم لسمې ته نه دي رسېدلي. (تاريخ دعوت و عزيمت ۱۷۹.۱۸۰/۲)

ابن کثير رَحِمَهُ اللَّهُ وايي:

ابن تيميه و ابن قيم رحمهما الله د تفسير او د تفسير اړوند مسايلو امامان دي، د فقه عارفين دي، ويل کيږي چې د خپلې زمانې له فقهاوو لوی فقيه و، حافظ حديث و، د صحيح و کمزوري حديث تر منځ فرق کوونکی و. (البدايه والنهايه ۱۳۷/۱۴)

د علامه ذهبي رَحِمَهُ اللَّهُ قول د تاريخ کبير په حواله شذرات الذهب کې داسي منقول دی: هر حديث چې ابن تيميه رَحِمَهُ اللَّهُ نه پېژني هغه حديث نه دی. (۸۲/۶)

شيرعلي شاه مدني رَحِمَهُ اللَّهُ وايي:

په حقيقت کې هغوی لوی عالم و، مجاهد و، د مجتهد درجه کې و.....ليکن د حيرت خبره دا ده چې ډېر علماء يې په اړه نادره نادره فکرونه لري. (شېر علي شاه کې درسګاه مې ص ۱۶۶)

افسوس چې ځينې افراطيان او سخت دريځي يې له غندنې بلکې له بنکنځلو هم نه منع کيږي، داسي الفاظ ورته کاروي چې د يوه ادنا مسلمان په حق کې يې هم کارول جواز نه لري، الله دي داسي کسانو ته هدايت وکړي.

اقول قولي هذا، و ما علیّ الا البلاغ

دا اسلام غزوات او سرلیکونه

د حدیبیې صلحې فواید، لطایف، مسایل او احکام

په تیر پسې

ابوظهیر

دممتحنه سورة ۱۰ــ۱۱ ایت له نزول وروسته کافران هم چوپ شول او دمیرمنو له بیرته غوښتنې لاس په سر شول

حدیبې صلحه کې مسلمانانو ته کومې لویې ګټې برخه شوې او یا ورته کوم پټ اسرار، مسایل او احکام ښکاره شول په اړه یې دستر محدث او ثقه سیرت لیکونکي مولانا محمد ادریس کاندهلوي رَحِمَهُ ٱللَّهُ یو اقتباس را اخلو نوموړي لیکي :حدیبې صلحې په برکت کوم لطایف، فواید، اسرار ، احکام او مسایل ښکاره شول دهغو ځینې په لاندې ډول دي:

۱... دمسلمانا نو کوم واکمن اویا کوم ذي رایه مسلمان که دکافرانو سره په صلحه کولو کې داسلام او مسلمانانو ګټې او مصلحتونه پیژني نو هغه کولی شي چې ور ته په پام صلحه وکړي، دغه ډول صلحه هم دجهاد معنی لري ځکه له جهاد نه یو مقصود دکفر او کافرانو دشرنه ځان اود مسلمانانو ژغورل او دهغوی دشر مخنیوی کول دي؛ کوم چې په صلحه کولو سره معناً ترلاسه کیدای شي ، قال الله تعالی:

وإن جنحوا لِلسّلم فَاجنَح لَهَا وتَوکَل عَلَی اللهِ

ژ: که کافران دصلحې طرف ته مایل وي، پس تاسو هم صلحې مایل شئ، خو اعتماد او ډاډ په الله تعالی ساتی یعنې په صلحه اعتماد مه کوئ

۲... که په صلحه کولو کې داسلام او مسلمانانو ګټې نه وې؛ بیا صلحه کول جواز نلري ځکه دغسې صلحه دمسلمانانو دتذلیل او دفرضي جهاد او قتال دتعطیل لامل ګرځي قال الله تعالی:

فلاتَهنُوا وَتَدعُوا اِلَی السّلم وَ اَنتُم الاَعلَونَ وَ اللهُ مَعَکُم

ژ: پس سستې مه کـوئ او دصـلحې لورتـه يې را وبلئ او تاسو به غالب ياست او الله تعـالى تاسو سره دى.

يعنـې چـې دجهـاد کولـو قـدرت لـرئ! دکافرانو سره صلحه کول جـوازنلري او دصـلحې معنى دقتال ترک دى نه دکافرانو سره اتحـاد؛ پـه دې وجه فقهاوو دصلحې لپاره د(موادعت) لفـظ اسـتعمال کـړى او د(موادعـت) لغـوي معنـى ده: پر يو بل جنګ پريښودل.

۳... عند الضرورت له کـافرانو سـره پرتـه له عوض؛دمال پـه ورکولـو؛ او دهغـوى نـه دمـال په اخستو؛ درې ډوله صلحه جوازلري څنګـه چې رسول الله صَلَّىٰاللّٰهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ دهجرت وروسته دمـدينې ديهـودو سـره دکـوم عـوض پرتـه معاهـده وکړه،دنجران دنصاراوو سره يې هغوى نه دپيسـو په اخستلو سره صلحه وکړه او پـه احـزاب غـزوه کې يـې (عيينـه بـن حصـن فـزاري) تـه دمـدينې منـورې دنيمـايې خرمـاوو پـه ورکولـو دصـلحې اراده کړېوه، چې تفصـيلې واقعـه يـې پـه احـزاب کې تيره شوه، دينه معلومه شوه چې پورتـه يـادې درېواړه صلحې جايزدي.

۴... دمسلمانانو او کفارو ترمنځ چې کلـه دکوم معلوم وخت يا مودې لپاره صـلحه و شـي ، دهغې پـه اړه ليکـل مناسـب دي، ځکـه چـې هـره کومـه معاملـه او عقـد تـر وخـت او زمـانې پـورې ممتد وي الله تعالى احتياطاً دهغـه پـه اړه دليکلـو حکم کړى دى: قال الله تعالى:

يآ ايُهَا لّذِين امنوا اذا تَدَيَنتُم بِدَينٍ اِلى اَجلٍ مُسمّى فَاكتُبُوهُ

ژ: اى ايمـانوالو! کلـه چـې د دَيـن(پـور) معامله کوئ ترمعلوم وخت پورې هغه وليکئ

هو! کوم عقد چې وقتي او سملاسـي وي پـه وخـت، زمانـه او راتلـونکي محمـول نـه وي دهغه ليکل ضروري ندي کماقال الله تعالى:

اِلاّ اَن تَكُـونَ تِجـارةً حَاضِـرةً تُـدِيرُو نهـا بَينَكُم فَلَيسَ عَلَيكُم جُنَاحٌ اَلاّ تَكتُبُوهَا

ژ: مګـر کـوم تجـارت چـې لاس پـه لاس کېږي ، که هغه ونه ليکل شي نو باک نلري.

معلومه شـوه چـې کومـه معاملـه داسـې نـه وي دهغې په نه ليکلو کې حرج دى يعنـې دهغې ليکل لازمي او ضروري دى ۰ شرح السير الکبيـر ۶مخ، ۴توک)

۵... د ليکلې لوظنامې دوه نقلـه يـا کـافى ويستل ضروري دي څو له هر فريق سره يوه، يوه نسخه خوندې وې

۶... پـه هـر ه نقـل پانـه د دواړو لوريـو څخـه بـه د هغـوى د سـرخلک لاسـليکونه کـوي څنګه چې دحديبې صلحه کې د دواړو غـاړو نـه لاسـليکونه وشـول چـې يونقـل يـې رسـول الله صَلَّىٰاللّٰهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ ته ورکړ و او بل دسهيل بن عمـرو ته ..

۷... دصـلحې پـه شـرطونو کـې لـه هـيڅ شرط سرغړونه نـده پکـار څنګـه چـې رسـول الله صَلَّىٰاللّٰهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ ابو جندل او ابو بصـير بيرتـه وليـږل

او وهغوی ته یې وفرمایل: مورږ له شوي عهد نه سرغړونه نشو کولی.

۸... که دیوې سیمې مسلمان واکمن دیو چا سره صلحه وکړه، دنورو سیمو په مسلمانانو او واکمنو یې اطلاق نه کېږي لکه کوم مسلمانان چې دمکې نه مدینې ته راغلل رسول الله ﷺ د وعدې سره سم هغوی مشرکانو ته وسپارل په رسول الله ﷺ باندې یوائې تر دغه ځایه وه چې هغوی ته به په دار اسلام کې ځای نه ورکوي ، داچې ابو بصیر او ابو جندل رض دواړو په یو داسې کې ځای واړول چې هغه دمدینې له حدودو بیرون و، مسؤلیت یې په رسول الله ﷺ نه و،همدا شان ابو بصیر او دهغه ملګرو چې کوم نور کارونه کول دمدینې له حدودو بیرون یې کول او هم یې درسول الله ﷺ دحکم او اذن پرته کول (فتح الباري - زاد المعاد)

۹... ابو بصیر رضی الله عنه چې کوم عامري شخص قتل کړ، خالص دخپل ایمان،دین او دځان خلاصون لپاره یې قتل کړی ، ولې چې ابو بصیر رضی الله عنه پوهیده چې مکې ته دتلو وروسته به مشرکان ورته ډول ډول اذیتونه ورکوي حتی په شرک کولو به یې مجبوري، په دې وجه یې عامري سړی قتل کړ خپل ځان او ایمان یې وژغوره (روض الانف ۲ټوک ۲۳۴مخ)

۱۰... کومې میرمنې چې مسلمانې شې او له دار لحرب نه دارالاسلام ته راشې، دهغوی نکاح دخپلو میرونو سره فسخ کېږي همدا راز چې نارینه مسلمان شي او له دارلحرب نه دارالاسلام ته راشي دهغه نکاح دکافرې میرمنې سره فسخ کېږي.

۱۱... لاتُمسِکُوا بِعِصَمِ الکَوافِرِ دکافرو میرمنو عصمت مه بندوئ یعنې دهغوی سره ازدواجې اړیکې منقطع کړئ او د مسلمان لپاره روا نده چې یوه مشرکه میرمن په نکاح کې اوساتي.

ددې ایت دنزول وروسته حضرت عمر رضی الله عنه خپلو دواړو مشرکو میرمنوته چې په مکه کې میشت وې طلاق ورکړ، چې دیوې نوم قریبه و وروسته دمعاویة بن سفیان رضی الله عنه سره نکاح وکړه او دبلې نوم اُم کلثوم و، هغې دابوجهم سره نکاح وکړه (فتح الباري ۵ټوک ۳۶۱مخ)

ددینه دصحابه وو رضی الله عنهم دایمان او اخلاص جذبه معلومیږي چې دالله تعالی دحکم لاندې هیڅ تعلق او محبت پروا یې نه درلوده ځکه هغوی په زړونو کې درسول الله ﷺ سره محبت دومره زیات وو چې پکې دبل چاسره دمحبت لپاره ځای نه و

مَاجَعَلَ اللهُ لِرَجُلٍ مِن قَلبَینِ فِی جَوفِهِ

ژ: الله تعالی دهیڅ سړي لپاره دوه زړونه ندي ورکړي

۱۲... دابن اسحاق په روایت:

لَا یَسقُطُ مِن شَعرِهِ شیءٌ اِلاّ اَخَذُوهُ

یعنې دجسد اطهر نه به چې کوم ویښته هم پریوت صحابه وو به دکمال محبت او

غايتي عظمت نه لاس لاس په کړ او تبرکاً يې ځانو سره ساته، چې تري دتبرک بآثار الصالحين جواز معلوميږي.(فتح الباري ۵ټوک ۲۵۰ مخ)

۱۳...دحديبې په واقعه کې دحضرت ابو بکر صديق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دوه ډوله فضيلت ښکاره شو لومړی : په صلحه باندې دحضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په ګډون ټول صحابه مغموم او خوابدي ول خو ابوبکرصديق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پشان هغسي مطمئن و، دوهم: کله چې حضرت عمررَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ خپل فرياد او اضطراب حضرت ابوبکر صديق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته ور وړو نو هغه ورتهلفظ په لفظ هم هغه ځواب ورکړ کوم چې ورته رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له مبارکې خولې وتلی و(زاد المعاد۲ټوک ۱۲۸ مخ)

۱۴... امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي: دحديبې څه برخه په حِل کې راځي او څه برخه په حرم کې ده، دامام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللَّهُ په روايت: چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قيام او استوګنه په حِل کې وه، خو لمانځه ته به دحرم حدودو ته راته، بناً که کوم شخص ته داسې صورت پيښ شو چې هغه حرم ته نيږدې وي هغه ته پکار ده چې لمونځ دحرم په حدودو کې اداء کړي...

هم دا راز ددې واقعې نه معلومه شوه چې ديولک ثواب اجر دمسجد حرام پورې خاص ندی بلکې دحرم په حدودو کې هرځای چې لمونځ اداء شي هلته ديولک لمونځونو ثواب لري (زادالمعاد ۲ټوک ۱۲۸ مخ)

۱۵... رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله صحابه وو ته دنحر او حلق حکم وکړ او پکې هغوی (صحابه وو) لږ ځنډ يا توقف وکړ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دومنانو دمور اُمسلمه رضی الله عنها سره مشوره وکړه او دهغې په مشوره يې عمل هم وکړ ددينه معلومه شوه چې دميرمنوسره مشوره کول روادکار دی په دې شرط چې تقوا، فراست، فهم او ديانت يې دډاډ وړ وي

۱۶... دسهيل پن عمرو په اصرار رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د(بسم الله) په ځای (باسمک اللهم) ليکل اومنل اګرکه د(بسم الله) ليکل اولی او غوره و خو داچې (باسمک اللهم) هم حق او سهې و په دې وجه رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په اولی او افضل اصرار ونکړ.

نوربيا ....



بیت المقدس ته د امریکایي سفارت لیږدول

اجرام

یو بل امریکایي

معین احمد (خروتی)

د اشغال شوي فلسطین د القدس ښار د مسلمانانو د لومړي قبلې مسجد الاقصی مرکز او د اسلامي نړۍ له جغرافیې څخه یوه نه بیلیدونکې برخه ده.

د فلسطین تاریخی ټاټوبی د نولسمې پیړۍ په پای کې چې کله عثماني خلافت د ضعف او کمزورۍ ښکار شو او مسلمانان په خپل منځ کې په بې اتفاقۍ اخته شول، نو یهودیانو د اروپایانو په تشویق د خپل یو قومي حکومت د جوړولو لپاره د دنیا د ګوټ ګوټ څخه دغه ټاټوبي (فلسطین) ته هجرت پیل کړ او کله چې د لومړي نړیوال جنګ په پایله کې عثماني خلافت ونړید او انګلیسانو د فلسطین خاوره اشغال کړه، نو یهودیانو ته یې په دغه ځمکه کې د خپل دولت د جوړولو فرصت برابر کړ او په سلګونو زره یهودیان یې د بیلا بیلو هیوادونو څخه راوستل او د مسلمانانو په خاوره کې یې میشت کړل، مسلمانانو په خپل ټول وس او توان د دغه خاورې څخه دفاع کړې خو له بده مرغه چې په امریکایي او اروپایي مرسته یهودیان وتوانیدل چې د فلسطین خاوره اشغال او خپل قومي هیواد پکې جوړ کړي.

د اشغال له لومړۍ ورځې څخه د فلسطین مسلمانانو دیهودو څخه د دغه پاکې خاورې د خلاصولو لپاره د جهاد لاره نیولې ده، چې د هغوی د جهاد په برکت د یهودو مخه نیول شوې، سره لدې چې یهود غواړي د مصر- د نیل څخه د عراق د فرات پورې ټوله سیمه تر خپل واک لاندې راولې چې مدینه منوره هم د هغوی د لوی دولت په نقشه کې ځای شوې ده.

بیت المقدس د مسلمانانو لپاره دومره اهمیت لري، څومره چې یې مکه معظمه او مدینه منوره لري، بیت المقدس د مسلمانانو لومړۍ قبله ده چې نبي

کـریم (صـلی الله علیـه وسـلم) ورته د هجرت څخه مخکې او د هجـرت څخـه وروسـته تـر شپاړس میاشتو پـورې لمونځونـه کړي دي، هم دغه قبلـه د ۱۹۴۷ میلادي کال راهیسې د یهودانـو په واک کې ده چې امریکایـان یې په پوره ډول همکاري کـوي او د فلسـطین د مسـلمانانو پـه مقابل کـې د یهـودو د هـر سـتر جنایت حمایت.

د فلسـطین پـه یـو مـتر خـــاوره د اشـــغالګرو حـــق تسلیمول هـم سـتر جنایـت دی خو امریکا په هغـه قراردادونـو هم سترګې پټوي چې د ملګـرو ملتونـو لـه عمـومي اسـمبلي او امنیت د شورا څخه تائید شوي دي، چـې پـه هغـې کـې د دوه خپلواکو دولتونو جوړول، بیـت المقدس د یوې نړیوالې ساحې پـه توګـه پیژنـدل، د ۱۹۶۷ د جنګ څخه په مخکینیو کربنـو بانـــدې د یهـــودي دولـــت حصـارول، د شـورای امنیـت لخوا په بیت المقدس کـې یهـود د تصرف څخـه منـع کـول، د ۱۹۶۷ د جنګ څخـه وروسـته د امنیـت د شـورا او د ملګـرو ملتونـو پـه عمـومي غونـډو کـې د یهـودو لخـوا د بیـت المقـدس اشـغال غنـدل شـوی او هغـه یـې د اسرائیلو د برخې په توګه د منلو څخه انکار کړی دی، خو د دې ټولـو فیصـلو د عملي کولو څخه اسرائیلو انکار کړی او په دغه کار کې یـې امریکـا شـاته ولاړه ده.

نړیوال کوشش کـوي چـې د مسـلمانانو لـه زړونـو څخـه د بیـت المقـدس اهمیت وباسي او هغه فقط یوه فلسطیني مسئله ښکاره کـړي، سره لـدې چـې د همدغه ځمکې په باره کې د قرآن کریم ډیر آیاتونه دي چې د هغـې پـه فضـیلت او غوره والي دلالت کوي، ډیر حدیثونه دي چې د مسجد اقصی او بیت المقدس غوره والی او د هغه چا غوره والي بیانوي، ځوک چې د بیت المقدس څخه دفاع کوي، نبي علیه السلام فرمایي: (عَنْ أَبِي أُمَامَةَ رضي الله عنـه قَـالَ: قَـالَ رَسُـولُ اللَّه (صلى الله عليه وسلم) : (لا تَـزَالُ طَائِفَـةٌ مِـنْ أُمَّتِـي عَـلَى الْحَـقِّ ظَـاهِرِينَ لِعَدُوِّهِمْ قَاهِرِينَ، لا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَالَفَهُمْ إلا مَا أَصَابَهُمْ مِنْ لأْوَاء، حَتَّى يَـأْتِيَهُمْ أَمْـرُ اللَّه وَهُمْ كَذَلِكَ)، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّه، وَأَيْنَ هُمْ؟ قَالَ: بِبَيْتِ الْمَقْدِسِ وَأَكْنَـافِ بَيْتِ الْمَقْدِسْ) مسند احمد. «ابو امامة (رضي الله عنه) وایـي چـې رسـول الله (صلى الله عليه وسلم) فرمایلي دي: زما د یو امـت یـوه ډلـه بـه پـه حـق بانـدې کلکه ولاړه وي او د دښمن د مغلوبولو هڅه به کوي، مخالفین به ورته هیڅ ضرر نه شي رسولی، البته د ژوند تنګي به ورته رسیږي، دوی به په دغـه حالـت کـې وي تر څو چې د الله تعالی مرسـته راشي، صـحابه کرامـو پوښـتنه وکـړه، ای د الله رسوله! دوی به چیرې وي؟ نبي (علیه السلام) وفرمایل: په بیت المقدس او د هغه په اطرافـو کـې بـه وي». لـدې ملـه د اقصـی جومـات او د بیـت المقـدس ځمکه د فلسطیني مسلمانانو نه بلکه د ټولو مسلمان ده او هر مسـلمان یـې بایـد دفاع خپل حق وبولي.

وحشي ډونلډ ټرمپ د ټولو نړیوالو، اسلامي او عربي هیوادونو له مخالفت سره سره دغه مقدسه ځمکه یهودیـانو تـه حوالـه او بیـت المقـدس یـې د یهـودي اشغالګر دولت د پلازمینې په توګه په رسمیت وپیژند او امریکـایي سـفارت یـې

له تل ابیب څخه بیت المقدس ته ولیږداوه چې پدې کار سره یې یو طرف ته د ملل متحد او امنیت شورا د ټولو فیصلو مخالفت وکړ او بل طرف ته یې د مسلمانانو زخمونه نور هم تازه کړل چې ورسره به په سیمه او نړۍ کې د تاؤ تریخوالي یوه نوې دروازه پرانیستل شي، لدې امله ټول مسلمانان باید د امریکا د دغه ظالمانه فیصلې په اړه خپل آواز پورته کړي او په یو غږ ووایي چې بیت المقدس د مسلمانانو عزت دی او هیڅکله هم مونږ پدغه پاکه او مبارکه ځمکه د یهودو حق نه تسلیمو.

په قرآن کریم کې د الاقصی مسجد فضیلت :

الله تعالی د مسلمانانو د لومړۍ قبلې الاقصی مسجد په اړه فرمایي :

سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلاً مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ البَصِير.

(اسراء ۱)

ژباړه : پاک دی هغه ذات چې خپل بنده یې د شپې د مسجد حرام څخه د هغه مسجد اقصی په لورې بوتلو، چې مونږ یې په چاپیره ځایونو کې برکت اچولی دی، تر څو خپلې نښې وروښیو، پرته له شکه الله تعالی اوریدونکی او لیدونکی دی.

په نبوي احادیثو کې د الاقصی فضیلت:

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: (لا تشدوا الرحال إلا إلى ثلاثة مساجد: المسجد الحرام، ومسجدي هذا والمسجد الأقصى.

ژباړه: ابوهریرة (رضي الله عنه) وایي چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فرمایلي دي: د عبادت په نیت سفر کول د درې جوماتونو پرته بل چیرې روا نه دی: مسجد حرام، زما دا مسجد (مسجد نبوي) او مسجد اقصی ته.

وعنه ـ رضي الله عنه ـ أن رسول الله - صلى الله عليه وسلم - قال: «لا تقوم الساعة حتى يُقاتل المسلمون اليهودَ، فيقتلهم المسلمون؛ حتى يختبئ اليهودي من وراء الحجر والشجر فيقول الحجر أو الشجر: يا مسلم، يا عبد الله، هذا يهودي خلفي فتعالَ فاقتله إلا الغرقد؛ فإنه من شجر اليهود.

ژباړه : د ابوهریرة (رضي الله عنه) څخه روایت دی چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فرمایلي دي: قیامت به تر هغه نه راځي تر څو چې مسلمانان د یهودو سره ونه جنګیږي، مسلمانان به یې وژني، تر دې چې یهودیان به تیږو او ونو لاندې پټیږي، نو تیږه او ونه به وایي چې: ای مسلمانه، ای د الله بنده! زما شا ته یهودي پټ شوی دی، راشه مړ یې کړه، خو یواځې د غرقد ونه به څه نه وایي، هغه دیهودو ونه ده.

الله تعالی دا د برکت او فضیلت ټاټوبی د اشغالګرو یهودانو له اشغاله آزاد او مسلمان فلسطینیان دي د ظالمو یهودانو له شره وساتي.

غاصب ځواکونه

چې شکست نه مني څه به مني؟

حسن مومند

په افغانستان کې دنا ټو اوامریکایې ځواکونو قوماندان جنرال نیکولسن د عقرب په ۴مه نېټه چې دنومبر د۲۵ مې نېټې سره یې سمون خوړ د ان. بی .سي تلویزون سره په مرکې کې ویلي وو چې افغانستان کې لا د بریا څرک نه ښکاري؛ مورږ افغانستان کې دګڼو ستونزو سره مخ یو؛ دپرمختګ ټولې لارې موټرل شویدي ؛ دافغانستان اوسنۍ جګړه تر ټولو ترینګلي وضعیت کې ده ؛ دنورو زرګونو فوځیانو په راتلوبه دمخالفینوپر ضدفشارونه نور هم زیات شي ؛ زمورږ بریا په وخت پورې نه بلکې دوضعیت پورې تړلی ده ؛ چې وضعیت کله ښه شي مورږ بریالي یو.

دمحترمو لوستوالو په علم کې به وي چې تېره اوونۍ دنیویارک دبهرنیو اړیکو جرګه ګۍ په خپل خپور کړي راپورکې دامریکا شپاړس کلنه جګړه بې ګټې بللی وه اودوسلوالو طالبانوسره یې دریښتیني خبروپرپیلولو ټینګار کړی و؛ په دغه راپورکې راغلي ووچې امریکا هرځومره د وسلوالوپرضدعملیات اوپوځي زور زیاتوي هغومره به دغه جګړه زور اخلي او اوږدېږي به ؛ راپورکې وړاندې راغلی ووچې دافغانستان دجګړې دحل یواځینۍ لار دطالبانوسره سیاسي جوړجاړی دی .

په راپورکې دامریکا دولسمشر ډونلډ ټرمپ په نوې تګلارې هم نیوکې شوي چې ټول زور یې په پوځي لارو چارو دی اودسولې برخه پکې خوارځواکی ده .

همداراز دعقرب په دوهمه چې دنومبر د۲۰مې نېټې سره یې سمون خوړ دامریکا دمرکزي استخباراتي ادارې پخواني مشراو دفاع وزیراو په افغانستان کې دامریکایې ځواکونو مشر قوماندان جنرال ډیویډپیټریوس وویل چې امریکا اوناټودافغانستان جګړه کې ماتې خوړلی ده اودغه جګړه یې ناکامه ده ؛ جنرال پیټریوس ویلي دي چې افغانستان کې دامریکادشپارس کلنې جګړې سربېره نه په دغه هېوادکې جګړه کمه شویده اونه هم مخالفین ځپل شوي، بلکې امریکااوناټو دمخالفینوپه مخنیوي کې هم پاتې راغلي دي .

الله اکبر ! له نن نه ۱۶ کاله وړاندې چې کله د امریکا پر افغانستان یرغل کاوه نو هغه مهال یې دغرور کوم حال و او اوس چې ددې یرغل ۱۶ کاله تېر شول اوس یې حال څه دی ؟!هغه مهال دغرور اوتکبر هغه حدته رسېدلی وه چې ټولې نړۍ ته یې دا کرښه را ښکله چې یا به زمونږ د دښمن پرضد دجنګ لپاره زمونږ ترخنګ ودریږئ او یا به زمونږ په مقابل کې زمونږ له دښمن سره دریږئ !

داټولې نړۍ ته دامریکادهغه مهال دولسمشر مغرور بوش متکبرانه تهدیدو چې له املې یې رښتیا هم لویه نړۍ دخوارو ، مظلومواوجګړه ځپلوافغانانو پر ضد دامریکا په ځنګ کې ودرېدله متکبر بوش چې د خپلو ټولو صلیبي ایتلافیانو په ملتیا پر جګړه ځپلي افغانستان برید کاوه، نو ددې هېواد اوملت ټول تاریخ یې له دماغو ویستلی و او ددې خاورې زمریان ورته دمېګو په نظر هم نه ښکارېدل اونه یې چرته داخبره په خیال اوخاطرکې راوستله چې ګینی دلته به داسې څوک هم وي چې پر امریکایې فوځي ډز وکړای شي .

دیرغل دشپو ورځو دامریکایې مشرانو خبرې کې رامخې ته کړو نوپه ډېرې اسانۍ ترې دا خبره معلومېږي چې دلته ددوئ پر ضد دمقابلې اودوئ ته دچا له لورې دضرر رسېدلوخبرې ته دوئ بیخي په دماغوکې ځای نه ورکولو.

ددوئ دماغوکه منله نویواځې همدا خبره چې دراتلوسره سم به یې دښمن دکاملی ماتې سره مخامخ او وسله به یې په ځمکه ایښي وي ؛ سمځو ، غارونو، غرونو اوځنګلونوته به پناه وروړي خوپدې یوځای کې به هم خوندي پاتې نه شي ؛ وبه وژل شي یابه ژوندي ونیول شي .

په تېرو ۱۶ کلونوکې امریکایانو او ایتلافیانو یې خپل ټول مادي او عسکري زور وازمایه ، خپلې ټولې پرمختللې وسلې اوعصري ټیکنالوژي یې تجربه کړه ، د ناټو په څیر د ځواکمن نړیوال پوځي تړون یې استخدام کړ ، نېږدې دري ټریلیونه ډالر یې پدې جنګ مصرف شول ، ددوئ په وینا له ۴ زرو زیات روزل شوي نازولي پوځیان یې ووژل شول ، په لسګونو زره نور یې ټپیان ، معیوب اومعلول شول او په لکونو یې په رواني مرضونواخته شول ، او نه یواځې داچې لاس ته هیڅ ورنغلل بلکې فرعوني غرور یې داسې دخاوروسره خاوروسره شو چې د دې دومره ستروځاني اومالي تلفاتو سره سره اوس دامریکا وزیران ،داستخباراتو مشران اوجنرالان وایي چې امریکا اوناټودافغانستان جګړه کې ماتې خوړلی ده اودغه جګړه یې ناکامه ده .

د امریکایي یرغل پر مهال چې امریکا دکومو طالبانو دبشپړې نابودۍ ګوابنونه کول ، نن دهمغوطالبانوپه مقابل کې ټوله امریکا اوناټودشکست اعترافونه کوي ؛ دامریکا ،ناټو اوټول لویدیځ په خپلو اعترافونون همغه طالبان پر نیم افغانستان واکمني کوي. او نن پخپله امریکایان هغوئ ته د سیاسي مذاکراتو وړاندیزونه کوي.

اوډېر هغه هېوادونه چې په پیل کې دامریکاحامیان ګڼل کېدل اوس دطالبانوسره د دیپلوماتیکواړیکوجوړولوهڅې کوي .

په ټولې سیمې کې دامریکا دشومو پلانونو تطبیق او دسیمې په سطحه دټولو مادي ګټو تحقق دافغانستان دقبضې سره تړلی دی نو ځکه ددې هېواد دقبضې ددوام لپاره امریکا ډېرې زیاتې هڅې کوي؛دلته ستر مالي او ځاني تلفات زغمي او جنګ یې دامریکا دتاریخ ترټولو اوږد او تاواني جنګ ګرځي خو چې په ولس کې یې داوږدې قربانۍ حوصله نشته نو نه یواځې په ولس کې بلکې په ګڼو متقاعدو اوبرحالو سیاسي مشرانو ، جنرالانو ، اداروالو په هغو اخبارونو او مجلو کې چې دامریکا ژبه او دتګلارې دتعین اصل مراجع ګڼل کېږي اوس پکې ددې بې ګټې جنګ پرضد اوازونه راپورته کېږي اوښه په جهر دخپل شکست اعترافونه کوي او چې غاصب ځواکونه شکست نه مني نوځه به مني ؟

داسې خبره یوائې دیو لیکوال ، یو اخبار ، یووزیر جنرال یایوې اداړې رایه ښکاره کول نه وي بلکه دا دامریکایې ولس اواز وي .

دا سمه ده چې دامریکا ګڼ سیاسي مشران ؛ دوسلو جوړولو شرکتونو مالکان او بدنامې خفیه اداړې به په افغانستان کې دجنګ دوام غواړي ځکه چې په همدې دوام کې خپلې ګټې وینې خو دامریکاولس په هماغه عقیده دی او هماغه څه غواړي کوم مو چې وړاندې ذکر کړل ؛امریکایان دمادیاتو ډېر زیات حریصان او دخپل هدف دحصول په لار کې ډېر لوي ظالمان دي؛دجنګونو باب یې چې له بل هرچا طویل دی نو سخت بدنام هم دي؛په نړۍ کې یې چې دهرچا پرضد جنګ کړیدی یوائې د مادي ګټو لپاره یې کړیدی او هر مقابل هېواد یې تباه کړی او پکې یې په سونو زره یا ملیونونو انسانان وژلي دي.

ددې ترځنګ چې امریکایان سخت حریصان او ظالمان دي نو دمطلب یاری او بې وفایۍ کې هم خپل سیال نه لري؛په کوم ځای کې چې دخپلو اهدافو دحصول نه مکمل ناامیده شي نو بیا دهیڅ شي پرواه نه ساتي؛او بې له دې چې عواقبو ته نظر وکړي خپلې پښې سپکوي؛نه یې دلته لګول شوي په ملیاردونو ډالر راستنولای شي او نه په زرونو وژل شوي فوځیان؛خپل ټول غلامان او لاسپوڅي داسې پرېږدي لکه چې یې بیخي نه پېژني او وایې چې تاسو ټول دیو امریکایې دهډوکو ارزښت نه لرئ.

دامریکا یرغل دکاملی مستۍ او غرور سره و او په هوش کې ایله هغه وخت راغله چې کله پرې دجنګ ډګر کې دشکست ټولی دروازې خلاصې او دکامیابۍ ټول امېدونه یې دخاوروسره خاوری شول .

کله چې دهېواد ټولوسیمو ته جګړه په خپرېدا اومنظم کېداشوه او بهرنو ځواکونو ته دراندې تلفات وراوړېدل پیل شول نوایله امریکا او اتحادیانو یې ومنله چې پرضد یې طالبانوځانونه منظم کړي اود اوږدې جګړې اراده لري .

که امریکایانو کې حقایقوته دحقایقوپه نظر دکتلوحوصله وای نوباید په همدغې وخت کې یې منلی وای چې دادیوحرکت دځوسوه یا څو زره تنانو، نه بلکې دبهرنو اشغالګروپر ضد دټولوافغانانوپاڅون دی او افغانانوچې دکوم اشغالګر ځواک پرضد پاڅون کړی هغه ځواک دشرمېدلی ماتې سره مخامخ شویدی .

که امریکا اومتحدینو یې هغه مهال داحقیقت منلی او ددې هېوادنه دوتلو لپاره یې معقول اقدامات کړي وای نونه خوبه یې په سونوملیارده ډالر ضایع کېدای ؛ نه به یې داپه لسګونوزره فوځیانو خپل ژوند له لاسه ورکولای اونه به یې په نړۍ کې حیثیت ته دومره تاوان رسېدلای لکه چې ورسېدلو .

که څه هم اوس دټرمپ نوې ستراتېژۍ داعلان نه پس اشغالګرو امریکایې اوناټو قواوو اوددوئ لاسپوڅو دشپنو عملیاتو اوبمباریو له لارې افغانانو ته دزیاتو مالي اوځاني تلفاتودرسولو اوله همدې لارې دعامو افغانانونه دخپلو تاوانونو دغچ اخستلوپرېکړه کړیده خو ټول ګران هېوادوال او مسلمان ملت دې پدې مطمئن وي چې اشغالګرو نور دلته دباقي پاتې کېدلو توان له لاسه ورکړیدی ؛ دمسلمانانو په لاس دامریکایې لویومشرانو دشکست اعترافونه دمسلمانانولپاره ډېره لویه دخوښۍ خبره ده دا دې ټول مسلمان ملت ته مبارک وي او؛ غاصبین به ډېر ژر ددې هېواد نه دشرمېدلې ماتې سره وتل اعلان کړي چې دابه دټولو مسلمانانولپاره دلویې خوښۍ سبب شي. ان شاءالله تعالی

غزل

ذاکر

د مورچل وږمي

رعد او برق یو

(رضوان الله فیضاني)

مونږ بې دینو ته په شان د رعد او برق یو
ملحدینو ته په شان د رعد او برق یو

لکه تندر د اسمان پرې راغورځېږو
مشرکینو ته په شان د رعد او برق یو

د اصلاح لپاره کاندو سر ښندنې
مفسدینو ته په شان د رعد او برق یو

د اسلام له سپینې لارې به وانه وړو
مرتدینو ته په شان د رعد او برق یو

لوی راحت یو د مظلوم ولس لپاره
مجرمینو ته په شان د رعد او برق یو

چې حق نه مني بد مسته لېوني وي
منکرینو ته په شان د رعد او برق یو

(فیضاني) مونږ حق پرسته شاعران یو
مطربینو ته په شان د رعد او برق یو

ستړی ژونده تر قراره رسوم دې
اې ستومانه انتظاره رسوم دې

چې څوک ونه وایي مینه یې دروغ وه
عشقه وړم دې تر انګاره رسوم دې

چې دوینو په جامونو دې اوبه کړم
نیم دې نه پرېږدم خماره رسوم دې

رقیبان دې چې ټول راشي ننداري ته
غاړې! هسکه شه تر داره رسوم دې

ډېوې وړم دې پر زخمي زخمي ورغوي
ویده نشې تر سهاره رسوم دې

دهجران غمو که وخوړې زړګیه
ته غم مه کوه تر یاره رسوم دې

پرتڼاکو پښو مزلونه لنډومه
ته دردونه خوره پرهاره رسوم دې

درنګونو بل جهان ته دې ذاکره
تر ګلونو او ګلزاره رسوم دې

غزل

(طالب الهام)

راوړي نغمې دازادۍ ، زړه ته هوس ورسره
دپاڅون ډولته به راوښې کاندي جرس ورسره

دکوه قاف تر څوکو ځي دسليمان لښکرې
دېوان به نيسي۔ شپول دغرونو دی قفس ورسره

زمورډکلې شازلي چې ځي سنګرته کله
تومبي په څنو کې غاټول ګل دنرګس ورسره

څپې څپې ېې قهرېدلي طوفاني موجونه
سېلاب د وينو مو قلزوم وړي او اطلس ورسره

مړيږي نه دالېونی زړه مې ديارپه مينه
چې ديدن راوړي صبروړي رانه واپس ورسره

لکه طوفان خوځېرو ځو طالب الهامه پر مخ
فتحه به شام کړو هم دمشق بيت المَقْدِس ورسره

وطن وران دی

(رضوان الله فيضاني)

خړ ګردونه بړبوکی ډي وطن وران دی
څه د غم سړې سيلی ډي وطن وران دی

کلي ړنګ کورونه ړنګ مينډې شوې بورې
د يتيم پر خولې سلګی ډي وطن وران دی

لويه خدايه غاټولان مو پر ملا مات دي
ورېدلې پرې ږلی ډي وطن وران دی

تور خزان زمونږ پر چم باندې راغلی
رژېدلې ګل غوټی ډي وطن وران دی

هم شپونکي مو په سرو وينو باندې رنګ دي
هم خاموشې يې شپېلی ډي وطن وران دی

اوس ټپې د ننګ غيرت نه کړي زلمو ته
اخ شهيدې ملالی ډي وطن وران دی

د زلمو سينې مرميو غلبېل کړي
رنګ په وينو يې پګړی ډي وطن وران دی

(فيضاني) ګودرپه وينو باندې رنګ دی
ترهېدلې ښاپېری ډي وطن وران دی

د نومبر د میاشتې

جنګي جنایتونه

سید سعید

د روان (۲۰۱۷) کال د نومبر د میاشتې په ۳مه نیټه د کندز ولایت دچهار درې ولسوالۍ په سړک بالا سیمه کې اشغالګرو او داخلي عسکرو بمبارۍ کړې، د عیني شاهدانو په وینا په بمباریو کې لسګونه کورونه ویجاړ شوي، پنځه ویشت تنه ملکي هیوادوال شهیدان او ټپیان شوي او خلګو ته لوی مالی تاوان هم اوښتی دی. یرغلګرو د ولسي وګړو د تلفاتو څخه انکار وکړ، خو کابل کې د ملګرو ملتونو استازي دفتر (یوناما) تائید کړه چې په یاد شوي برید کې ټول وژل شوي کسان ملکیان دي.

د نومبر په ۴مه د غزني ولایت د ګیرو ولسوالۍ مرکز ته نژدې دطالبانو او داخلي عسکرو تر منځ د جګړې وروسته داخلي عسکرو په سیمه کې بمبار کړی، په بمبار کې اته تنه ملکي وګړي شهیدان اوټپیان شوي دي.

دنومبر په ۴مه دکندهارولایت دخاکریز ولسوالۍ د کیدو په سیمه کې یرغلګرو د داخلي کمانډویانوپه ملتیادچاپې په مهال شپږ تنه ملکي وګړي بندیان کړي دي.

دنومبر په ٦مه د فاریاب ولایت د جمعه بازار په مربوطاتو کې دیرغلګرو په یو هوایې برید کې دوې ښځې شهیداني شوي دي.

دنومبر په ٦مه د غزني ولایت د ده یک ولسوالۍ په روزي کلي او سلیمانزو بازار سیمو کې د اشغالګر و په بمبار کې دوه ماشومان شهیدان شوي او څلور تنه ملکي وګړي ژوبل شوي دي.

د نومبر په ۷مه د لوګر ولایت د څرخ ولسوالۍ په امید کلي کې اشغالګرو دداخلي عسکرو سره په ګډه دچاپې په مهال اووه تنه ملکي هیوادوال بندیان کړي دي.

دنومبر په ۷مه خبر خپور شو چې:دفاریاب ولایت په پشتونکوټ ولسوالۍ کې د اربکي قومندان قادر وسله والو دملکي خلکو ۱۰۰۰ پسونه له ځان سره بیولي دي.

دنومبر په ۹مه دفراه ولایت دخاکسفید ولسوالۍ دننګ اباد بازار اوشاوخوا کلیوباندي یرغلګرو بمبار کړی،په یادشوي بمبار کې دوه ویشت تنه ولسي هیوادوال شهیدان او ټپیان شوي او ګڼ

شمېر کورونه تخريت شوي او حيوانـات وژل شـوي دي.

د نـومبر پـه ۹مـه د پکتياولايـت د زرمـت ولسوالۍ د ممـوزو په جانکښلو سيمه کې اشـغالګرو د داخلي عسکرو په ملتيا په يوه کلينک او د بازار پـه دوکانونو چاپه وهلې، د کلينيک چوکۍ، کړکۍ او نـور مهم آلات او لوازم يې ويجاړ کړي دي.

دنومبر پـه ۱۰مـه د بغـلان ولايـت مرکـزي بغلان ولسوالۍ کوږچنـار سـيمه کـې اشـغالګرو د داخلي عسکرو په ملتيا د ملکي خلکو په کورونو چاپې وهلې، د کورونو دروازې يې ماتي کـړې، خلـک يـې وهلي، کورونه تالاشي کړي او په پای کې يې اووه تنه کليوال له ځان سره د بنديانو په توګه وړي دي.

دنومبر په ۱۰مـه دزابـل ولايـت دمرکـزقلات اړوند دنورک کلي ته څيرمه دداخلي عسکرو دتوپچي په ډزو کې دوې ميرمنـې شـهيداني شـوي او څلـور ماشومان ژوبل شوي دي.

د نومبر په ۱۲مه د فارياب ولايت د غورمـاچ ولسوالۍ دنغاره خانه سـيمه کـې د ځـايې عسـکرو دهاوان په برید کې ديـو يې کـورنۍ اووه تنـه غـړي شهيدان او ټپيان شوي دي.

دنومبر په ۱۴مه يرغلګرو د شپنيو عملياتو په لړ کې دکندهارولايت دميوندولسوالۍ د کلانکيچي پـه سيمه کې چاپه وهلې، لس تنه ملکي هيـوادوال يـې د بنديانو په توګه له ځان سره ببولي دي.

دنومبر په ۱۴مـه د کنـړ ولايـت د سرکـانو ولسوالۍ په دادمدري کلي کې دداخلي عسکرو دځقيله وسلو په برید کې يو ملکي وګړی شهيد شوی او يـوه ميرمن ټپي شوې ده.

دنومبر په ۱۴مه دسرپل ولايت دسوزمه قلعه ولسوالۍ د خراسان په سيمه کـې د داخـلي عسـکرو دهاوان په پيرونو کې څلور تنـه ماشـومان شـهيدان شوي دي.

دنـومبر پـه ۱۷مـه د لـوګر ولايـت د څـرخ ولسـوالۍ پـه ملاعلـيم کـلي کـې اشـغالګرو د داخلي عسکرو په ملتياچاپه وهلـې،دوې مدرسـې او کورونه يې تلاشي کړي،دخلګو مـوټر سـايکلونه يـې سوځولي،دمدرسې د زده کونکو په ګډون يې پنځه تنه ولسي وګړي بنديان کړي دي.

دنومبر په ۱۸مه دزابل ولايت په مرکز(قلات) کې دعدليې رياست کې موظف عسکر(کليم الله) دوه تنه ملکي وګړي (عبدالقادر اودهغـه زوی عبـدالمنان) شهيدان کړي دي.

د نومبر په ۱۸مه د ننګرهـار ولايـت د غنـي خېلـو ولسـوالۍ پـه ۲۵ نمـبر ويالـه سـيمه کـې داخلي عسکرو يو ملکي وګړی شهيد کړی دی.

د نـومبر پـه ۱۸مـه د ننګرهـار ولايـت د سرخرود ولسـوالۍ د فـتح ابـاد پـه زرخـم سـيمه کې اشغالګرو عسکرو د داخلي عسـکرو پـه ملګرتيـا دچاپې په مهال دوه تنه ولسي وګړي شـهيدان کـړي دي.

دنومبر په ۱۹مه دهلمنـدولايت دموسـی کـلا ولسوالۍ مرکز ته څيرمه يرغلګـرو دملکـي خلکوپـه کورونو بمبار کړی، په بمبار کې اووه کورونه تخريب

شوي اوديوې کورنۍ لس تنه غړي(ښځي ماشومان اونارينه) شهيدان شوي دي.

د نومبر په ۲۰مه د ننګرهار ولايت د بټي کوټ ولسوالۍ په کوډي سيمه کې د داخلي سپيشل فورس عسکرو د هاوان په ډزو کې يو ماشوم شهيد او لس تنه ولسي وګړي ټپيان شوي دي.

دنومبر په ۲۰مه د ننګرهار ولايت د شيرزادو ولسوالۍ مرکيخېلو سيمه کې اشغالګرو د داخلي عسکرو په ملتيا چاپه وهلې،يوتن ديني عالم (مولوي صاحب شيريندل) يې شهيد کړی او درې تنه نور ملکي وګړي يې بنديان کړي دي.

د نومبر په ۲۱مه د پکتياولايت د زرمت ولسوالۍ په ګوډلو سيمه کې داخلي عسکرو دوه تنه ولسي وګړي شهيدان کړ ي دي.

دنومبر په ۲۲مه د ننګرهار ولايت د حصارک ولسوالۍ په ملکانو سيمه کې يرغلګرو د کوچيانو په کورونو او رمه بمبار کړی، په بمبار کې د ښځو او ماشومانو په ګډون څلور تنه ولسي وګړي شهيدان او څلور تنه ټپيان شوي دي. همدارنګه په دغه هوايې برید کې لسګونه مواشي هم له منځه تللي دي.

دنومبر په ۲۲ مه رسنيو خبر ورکړ چې: د ميدان وردګ ولايت د نرخ ولسوالۍ په عمر خيلو کلي کې يرغلګرو او داخلي عسکرو پر يوې ديني مدرسې چاپه وهلې، دځايې خلګو په ويناګډو ځواکونو اته تنه واړه طالبان او حافظان راټول کړي، دېوال ته يې کښېنولي او بيا پر سر- سر ويشتلی دي. دې پيښې په خواله رسنيو کې پراخ غبرګونونه راپورته کړل خو يرغلګرو او داخلي عسکرو يې په اړه څه نه دي ويلي.

د نومبر په ۲۲مه د پکتيا ولايت د احمدآباد ولسوالۍ کامران خېلو سيمه کې اربکيانو يو ديني عالم مولوی حمدالله شهيد کړی دی.

دنومبر په ۲۳مه يرغلګرو دکاپيسا ولايت د نجراب ولسوالۍ په افغانيه سيمه کې پر يو کور چاپه وهلې، دکور دمشر په ګډون يې دوې ميرمنې او درې ماشومان شهيدان کړي دي.

دنومبر په ۲۶مه يرغلګرو ځواکونو د لغمان ولايت د قرغيو ولسوالۍ په چار باغ او امبيړسيمو کې ديو ديني عالم په ګډون پنځه تنه ولسي وګړي شهيدان کړي او درې نفره بنديان کړي دي.

دنومبر په ۲۸مه د ميدان وردګ ولايت د سيداباد ولسوالۍ کې يرغلګرو دچاپې په مهال دمکتب څلور تنه استادان بنديان کړي دي.

د نومبر په ۳۰مه د هلمند ولايت دسنګين ولسوالۍ دمالمند بازار سيمه کې يرغلګرو دچاپې په مهال اووه تنه ولسي وګړي شهيدان کړي او شپږ نفره بنديان کړي دي.

مأخذونه :[بي بي سي راډيو،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک = ،خبريال ويبپاڼه ،لراوبر= ،نن ټکی اسيا=اوبينوا[=

۲۰۱۷ زکال

د نومبر د میاشتې جهادي خبرونه

اقصی

رضوان الله (فیضاني)

ذوالجلاله په مونږ فتحه بیا اقصی کړه
بیا ذلیل راته یهود او نصارا کړه

چې هر ځوان مو ایوبي صلاح الدین شي
سپین بیرغ مو په القدس بیا په نڅا کړه

انتقام د مسلمان امت چې واخلو
د اسلام جذبه په مونږ کې راپیدا کړه

په کفارو باندې یخ کړه زمونږ زړونه
زوریدلي اولسونه مو هوسا کړه

یو د نوح غوندې توفان ورته پکار دی
پکې غرق یې همکاران او امریکا کړه

شام عراق افغانستان که فلسطین دی
ټول ملکونه مو آزاد یو ځلې بیا کړه

د اقصی په ننګ چې وشیندو سرونه
ربه داسې ننګ غیرت مونږه ته را کړه

چې راټول د یو امیر په قومانده شو
ته محکومه راته بیا کفري دنیا کړه

د وحشت ټغر ورټول کړه زرتر زره
ظالمان دې په خپل قهر مبتلا کړه

فیضاني درته نیولي دي لاسونه
په خپل درکې دې قبوله دا دعا کړه

دیرغلګرو وحشت

د امریکا لخوا بیت المقدس د اسرائیلو د مرکز پیژندلو په اړه

د اسلامي امارت غبرګون

بلاخره امریکا خپله اشغالګرانه ځیره نوره هم برېنډه کړه، د اسلام له دین سره دښمني او د مسلمانانو د سیمو د غصب او استعمار څخه د ملاتړ پالیسي یې اعلان کړه .

اسلامي امارت د امریکا د ولس مشر لخوا د مسلمانانو لومړی قبله بیت المقدس د غاصبو اسرائیلو د مرکز په ډول پیژندل په کلکو ټکو غندي او دا اقدام د ټولو مسلمانانو په ضد له تعصبه ډک او له عقل نه لیرې ګام بولي.

د ټرمپ دا پریکړه په ټوله نړۍ خصوصا په منځني ختیځ کې د شخړو اور ته لمن وهل دي.

د امریکا مشر ټرمپ وښوده چې امریکا د مسلمانانو په ټولو هغو ناخوالو کې مخامخ دخیله ده چې له لسیزو راهیسې مسلمانان ځوروي، هیوادونه یې لاندې کوي، خلک یې وژني او د اسلام دین د ارزښتونو د له منځه وړلو هڅې کوي.

اسلامي امارت په ټولو اسلامي هیوادونو او مسلمانو ملتو غږ کوي چې له بیت المقدس څخه خپل حمایت اعلان کړي او د فلسطین د مظلوم ولس د مشروع مبارزې ملا تړ و کړي.

که اسلامي نړۍ په خپلو کې یوبل ته دوروړی لاس ورنه کړي او په اتفاق سره د خپلو مشکلاتو حل ته راوړاندې نشي، اسلام دښمنه دسیسې ونه پیژني او لا هم فرصتونه له لاسه ورکړي، لرې نه ده چې د استکباري قوتونو لخوا به د مسلمانانو ارزښتونه لا هم له منځه ځي او د مسلمانانو موجودیت به له لوی ګواښ سره مخ کیږي .

د افغانستان اسلامي امارت

۱۹/۳/۱۴۳۹هـ ق

۱۲/۹/۱۳۹۶ هـ ش- ۷/۱۲/۲۰۱۷م